د عبدالحمید مومند

د شاعرۍ تړنګونه

شاه محمود کړوال

۱۳۹۳ل

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : د عبدالحمید مومند د شاعرۍ تړنگونه

لیکوال : پوهنمل شاه محمود کډوال

خپرندوی : د افغانستان ملي تحریک

کمپوز : لیکوال

پښتۍ ډیزاین : فیاض حمید

چاپشمېر : ۱۰۰۰

چاپکال : ۱۳۹۳ ل

ډالۍ

ژوند ، پوهې او ګروهې ته !

د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمتونه وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي . د تاریخي ، ملي ، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي .

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي ، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وپتېیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (د عبدالحمید مومند د شاعرۍ ترنګونه) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (پوهنمل شاه محمود کدوال) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

پیلیزه

حمیدبابا د پښتو ادب د منځنۍ ادبي دورې هغه شاعر دی ، چې شعرونه یې له بېلابېلو اړخونو د څېړنې او کتنې وړ دي . دی شعر په رښتینې مانا خلکو ته ورپېژني او ډېره خوږه شاعري کوي . د ده شعرونه د شعر په اړینو توکو ښکلي او سمبال دي . خپله موخه په ښکلې هنري ژبه څرګندوي او لوستونکی له ځان سره د خیال په نړۍ ورننباسي .

په شعر کې ترنګ جوړونه یا شاعرانه ترنګونه هغه موضوع ده ، چې په پښتو ژبه کې پرې نوي نوي بحثونه پیل شوي دي . که څه هم دا ترنګونه له وړاندې د بېلابېلو شاعرانو په ویناوو کې وو ، خو څېړل شوي نه وو .

هېره دې نه وي چې څېړنه هغه وخت ډېره ښه پرمخ ځي ، چې د موضوع په اړه پراخ مالومات او سرچینې شتون ولري . که داسې نه وي ، څېړونکی له ډېر کړاو سره مخېږي . له بده مرغه دا موضوع ، چې ما څېړلې ، په پښتو ژبه کې وړاندې ښه څېړل شوې نه ده . د مالوماتو او سرچینو له کمښت سره مخ شوم . خو په هر صورت خپله بېړۍ مې ساحل ته ورسوله .

دا (شاعرانه ترنګونه) او دې ته ورته موضوعات ، چې له یوې خوا په ژبه او بله خوا په ادب او هنر پورې تړاو لري ، په کار ده څېړونکی په دواړو برخو کې څه ناڅه مالومات ولري . په شعرونو کې ډېر ژبني توکي خپل ځای ونجوي همداسې ترنګونه هم دي ، چې یوه برخه یې د یوه بیت یا نیم بیتي په یوه ځای او بله برخه یې په بل ځای کې وي ، د دواړو یو ځای کول لږ څه فکر غواړي. د دې ترخنګ د ترنګ مانا هم داسې موضوع ده ، چې پوهه ، ټولنیز مالومات او علمي تجربه غواړي .

د ځېړنـې پـه بهیـر کـې ، د کابـل پوهنتـون ، د ژبـو او ادبیـاتو پـوهنځي ، د پښـتو ژبـې او ادب څـانګې ، زړه سـواند او مهربـان اسـتاد پوهنـوال محمـد رفیـق (رفیق) لاربښـوونواو مالومـاتو زمـا د ځېړنـې کـار ګړنـدی کـړ او پـه دې برخـه کـې یـې غـوره مشـورې ، د دې لامـل شـوې ، چـې خپـل کـار پـه ښـه توګـه پـای تـه ورسوم . همدارنګه پـه دې برخـه کـې د اسـتاد محمـد آصـف صـمیم کتنـو هـم د آثـر په بشپړتیا کې سـتره ونـډه درلـودې ، چـې پـه تـرخ کـې یـې آثـر د خپـراوي جوګـه شـو . همداسـې د ځېړنـې پـه بهـیر کـې د کابـل او لغـمان پوهنتونـو لـه ځوانـو او تانـدو اسـتادانو اورنګزیـب اسـحاقزي او اجمـل ښـکلي د مرسـتو لـه کبلـه ورتـه کورودانی وایم او د ټولو د سوکالۍ په هیله یم .

درنښت

شاه محمود کډوال

نیولیک

سرلیک	مخګڼه
سریـزه	۱
د نازکخیال حمید بابا لنډه پېژندنه	۲
د حمید بابا د شعر او شاعرۍ زمانه	۳
د حمید بابا سبک	۴
ترڼګ څه ته وايي ؟	۷
د حمیدبابا په شعرونو کې شاعرانه ترڼګونه	۱۵
اخځونه	۱۰۸

سریزه

د ژبې په بډاینه کې شاعران ستره ونډه لري ، دوی که له یوې خوا په خپلو شعرونو کې د خپل چاپېریال پېښې، واقعیتونه او اړتیاوې په هنري ژبه انځوروي ؛ له بلې خوا د ژبې په پراختیا او پرمختیا کې یاد وړ کار تر سره کوي.

د شعر په سیوري کې تړنګ جوړونه د شاعر کار دی او دا اړتیا هم تر ډېره په شعر کې ننګېرل کیږي. خو دا بیا د شاعر په ذهني ځواک ، استعداد او پوهې پورې تړلې ده، چې څه ډول ښکلي تړنګونه جوړ کړي. تړنګونه د یوې مانا د څرګنداوي لپاره رامنځته کېږي. یو شمېر دا تړنګونه کېدای شي له وړاندې په ژبه کې وي او یو شمېر یې نوي وي. په دې مانا، چې د شاعر په فکر کې نوې پېښې او ماناوې رامنځته کېږي ، چې د تړنګ په جوله کې یې رانغاړي.

تړنګ هغه ژبنی یوون دی، چې تر یوه ډېر ژبني توکي لري. د یوې مانا لپاره جوړېږي. خو د غونډلې په څېر بشپړه مانا نه لري . په وییپوهنه کې تړنګ هغه وییونه رانغاړي ، چې تر یوه ډېر توکي لري ، لکه: پوهنتون، کرګر، لوګری... په غونډله پوهه کې غونډله پوهیز تړنګونه ، چې دا بیا له وییزو هغو سره توپیر لري ، لکه: کابل ښار افغان مېنه، ښاري ځانګه.

زموږ د څېړنې موضوع شاعرانه تړنګونه دي، چې د حمیدبابا شعرونو ته ځانګړې شوې ده. د دې ډول تړنګ له نامه څرګندېږي ، چې په شعر پورې تړلي دي. په دې مانا، چې تر ډېره په شعرونو کې کارېږي ؛ په هنري نثر کې یې هم کارېدنه شونې ده. په یوه وېشنه کې تړنګ څلور ډوله (اضافي، وصفي، تشبیهي او استعاري) ښوول کېږي. خو په نورو کې بیا ډېر ډولونه لري. تړنګ وېشنه د بېلابېلو څېړونکو په آثارو کې په جلا توګه شوې ده، چې ډولونه یې، چا یو او چا بل ډول ښوولي دي.

یاده دې وي ، چې ګړنې (اصطلاحات، محاورې، امروزې، ایډیمونه) هم د شاعرانه تړنګونو تر سرلیک لاندې څېړل شوي، هغه هم له دې لامله، چې ګړنه هم یو تړنګ دی، په یوه ځانګړې شاعرانه مانا سره، چې تاسې به یې په دې لیکنه کې ولولئ.

د نازکخیال حمید بابا لنډه پېژندنه

عبدالحمید مومند، د پېښور په ماشوګګر کې زېږېدلی دی. د زوکړې باوري نېټه یې څرګنده نه ده. خو داسې ګمان کېږي، چې د یوولسمې هجري پېړۍ په پای کې به زېږېدلی وي. ده متداول علوم لوستي او په ملا عبدالحمید مشهور وو. په پارسي ادبیاتو کې د پراخې مطالعې خاوند وو او په عربي هم پوهېده.

هانري جورج راورټي وایي، چې عبدالحمید مومند په ۱۱۴۵ هـ کال کې مړ شوی دی. د ده مړی د ماشوګګر په هدیره کې ښخ دی.

حمید د شعر ویلو عالي استعداد او مبتکر فکر درلود او د تازه مضمون په پیداکولو کې د مهارت خاوند وو. حمید د خپل ادبي فعالیت په دوران کې داسې رنګینه ښکلې او په بدیعي ښکلاوو سمباله شاعري وکړه، چې وروستیو دی د موشګاف په لقب وستایه.

عبدالحمید مومند د شعر یو رنګین دیوان لري، چې زیاتره غزلې پکې راغلي دي. یو ترکیب بند، مخمس، څو قصیده ډوله غزلې او دوې رباعي هم ورسره ملې دي.

عبدالحمید مومند د مولینا غنیمت کنجاهي نیرنګ عشق په روانه او خوږه پښتو مثنوي ژباړلی دی. د حمید ژباړه ازاده ژباړه ده او خورا لوړ ادبي قوت لري. ټول بیتونه یې ۱۸۱۸ دي، په داسې حال کې، چې د اصلي پارسي متن بیتونه ۱۵۰۰ دي.

له نیرنګ عشق سربېره عبدالحمید مومند د هلالي چغتایي د شاه و درویش کیسه هم په خوږه او روانه مثنوي ژباړلې ده. حمید دا ژباړه د شاه و ګدا په نامه پر ۱۱۳۷ هـ کال بشپړه کړې ده. د حمید ژباړه هم خوږه، خوندوره او هنري ده. پر دیوان، نیرنګ عشق او شاه و ګدا سربېره، ځینو څېړونکو د شرعة الاسلام مثنوي هم د عبدالحمید بللې ده (۱۴: ۲۱۵، ۲۱٦).

د حمید بابا د شعر او شاعرۍ زمانه

د حمید بابا د ژوند ډېره برخه په هند کې د مغلو د واکمنۍ به بهیر کې تېره شوې ده،چې بنسټ یې ظهیرالدین محمد بابر په ۹۳۲ هـ کې ایښی وو او په هند کې د پښتون واکمن ابراهیم لودي په وژلو پیلېږي. له دې واکمنۍ سره د پښتنو مبارزه هم نږدې تر پایه روانه وه چې ستر مبارزین پیر روښان ، ایمل خان، دریاخان، خوشال خان خټک او نور په دې لړ کې د یادولو وړ دي.

که د حمیدبابا د زوکړې نېټه (۱۰۸۰ هـ) شاوخوا وبولو، نو په دغه وخت کې اورنګزیب (۱۰٦۸ هـ - ۱۱۱۸ هـ) د شاه جهان زوی، د هند د مغلي واکمنۍ پر ګدۍ ناست وو. د اورنګزېب د مرګ پر وخت، حمید بابا نږدې څلوېښت کلن وو، هغه په لاندې بیت کې د اورنګزېب مرګ ته نغوته کوي:

څه به شور نه وي د هند په میخانه کې ؟
چې اورنګ څخه د حکم جام نسکور شو

اروانباد پوهاند صدیق الله رښتین د (۱۱۳۰ هـ) کال شاوخوا د حمیدبابا د شاعرۍ او شهرت زمانه بولي (۲: ٦۱).

په لاندې بیت کې حمیدبابا د مغلي واکمنو د کړنو څرګندویي کوي:

دا څه دور د ګردون راغی وخت نور شو
چې شېوه د عادلانو ظلم زور شو

لاندې بیت هم د یو تاریخي حالت انځور کاږي:

چې د ښکلو د درګاه ګدایي مومي
هی توبه د محمدشاه له سلطنته

شهسوار سنګروال نیازی د دې بیت په اړه وایي، چې پر هند باندې د احمدشاه بابا د برید پر وخت، هلته محمدشاه واکمن وو، که چېرته همدا محمدشاه وي ؛ نو دی خو د احمدشاه بابا معاصر دی او تر دغه وخته ممکن حمید بابا ژوندی وو (۸: ۱۷۷).

د حمید بابا سبک

سبک عربي نومونه ده، چې د سرو او سپینو زرو د ویلې کولو او تویولو په مانا راځي. په اصطلاح کې سبک د ویلو او لیکلو ځانګړي ډول او طرز ته ویل کیږي. د عربي د سبک په مقابل کې اروپایان د (Style) ویی کاروي، که څه هم، چې د ستایل ویی تر سبک ډېر پراخوالی او ارتوالی لري ؛ ځکه چې لوېدیځوال د ټولو کړو وړو (لکه نڅا، رسم او داسې نورو) لپاره، چې په یوه ځانګړي او ممتاز ډول سره وي (Style) کاروي. د پارسو پخوانیو ادیبانو به د سبک پرځای د فن، طرز، سیاق، طریقه، شېوه اسلوب دا او داسې نور ویي کارول ؛ مګر اوس د سبک نومونه او ویی ډېر دود شوی دی (۴: ۷۱).

د پښتو ادبیاتو ګرده څېړونکي او پوهان په دې عقیده دي، چې د هندي سبک بنسټونه، په پښتو شاعرۍ کې تر هرچا د مخه عبدالحمید مومند دود کړي دي او زیار یې ایستلی دی. د دغه ادبي سبک له غوښتنو سره سم، خو د اعتدال د حد په ساتلو سره، خپله شاعري عیاره کړې ده. د دې سبک له ځینو ځانګړنو له خپلولو سره سره، حمید د خپل شعر جوله پښتني وساتله او دا په دې مانا، چې ده په دې برخه کې منځلاری وو او په منځني ډول یې د هندي سبک بنسټونه خپل کړل (۱۳: ۳۰۹) .

ادبپوهانو د هندي سبک سترې ځانګړنې داسې ښوولي دي:

۱ - د دغه سبک تابع آثار زیاتره ابهام او پېچلتیا لري.

۲ - د دغه سبک خاوندانو د خپلو پخوانیو شعري دودونو په پرتله، نویو مضامینو او د تازه فکر د پیداکولو خواته پام کړی دی.

۳ - ایجاز د دې سبک بله ځانګړنه ده. د دغه سبک شاعران ډېرې خبرې په لنډو ویناوو کې څرګندولای شي.

۴ - دقیقو تشبېهاتو او ځانګړو استعارو په دې شعرونو کې ځانګړې ونده مونډلې ده.

۵ - د هندي سبک پیرو شاعران د خپلو شعرونو د هر شعر په مسرو کې تناسب ساتي. د تقابل، مراعات النظیر، مدعا و مثل او حسن تعلیل د ادبي صنایعو په پاللو کې ډېر پیاوړي دي.

٦ - د دې سبک په شعرونو کې متلونه، گړنې او سیمه ییز ژبني توکي ډېر کارېږي.

۷ - د دې سبک شعرونه د یو ځانگړي آهنگ او لحن (غاړې) لرونکي دي.

۸ - د دې سبک غزلې زیاتره د مینې پر محور چورلي، حال دا، چې تر دې سبک د پخوانیو شاعرانو په شعرونو کې بېلابېل موضوعات ځرگند شوي دي . د دې سبک غزلې ځینې موضوعي بېلتون لري او همغږي پکې نه لیدل کېږي.

۹ - د هندي سبک پیرو شاعران زیاتره د نکته سنجۍ او مضمون تراشۍ په فکر کې وي او د شعر دودېزو آرونو ته دومره پام نه کوي. د غزلو د بیتونو ډېروالی او د قافیې د تورو تکرار او نور د هندي سبک په پیروۍ رامنځته شوي شعرونو کې لیدل کېږي .

۱۰ - افراط، تفریط، اغراق او مبالغه د هندي سبک په تابع شعرونو کې ډېره لیدل کېږي (۱۴: ۲۱۴، ۲۱۵) .

سید محی الدین هاشمي د هندي سبک ځانگړنې داسې راپېژني:

۱ - د نویو او بکرو خبرو لپاره هڅه.

۲ - مضمون پنځونه (آفریني).

۳ - د لفظي او معنوي صنعتونو په ډېرې کارونې سره د وینا پېچلتیا او کړکیچ.

۴ - په مبالغه کې غلو او افراط.

۵ - د مضمون او تشبیه د رامنځته کولو لپاره له چاپېریال او شاوخوا څخه گټنه.

٦ - د ارسال المثل صنعت ډېره کارونه.

۷ - د تخیل زیاته ژورتیا (۱۱: ۹۵).

کوم څه، چې تر ټولو د مخه د حمید بابا په شعرونو کې د پام وړ دي، دادي:

۱ - حمید د هندي سبک پیرو دی او د دې سبک یو ستره ځانګړنه دا وه، چې شاعر به په شاعرانه دنیا کې د عشق یوه افسانوي نړۍ جوړوله او د هغې په بیان کې به یې ډول ډول خیال بافي کوله. د غزل په ډېره برخه کې به د معشوقې د سترګو، بڼو، وروځو او قد ستاینه کېده. شاعر به د سترګو په ګولیو لګېدلی یا به د بڼو په غشو ژوبل شوی وو او یا به د بېلتون په اور لولپه وو. خو هغه داسې یو شاعر نه دی، لکه د دې سبک نور لاروي، چې د مضمون مانا او موخه په الفاظو کې نغاړي او په مشکل سره ترې مانا اخېستل کېدای شي لکه کاظم خان شیدا.

۲ - د حمید بابا د شعرونو بله ځانګړنه داده، چې هغه د خپل مطلب او مدعا د اثبات لپاره له ارسال المثل څخه کار اخلي. البته نور ادبي او هنري صنایع، لکه تلمیح عارفانه تجاهل حسن تعلیل، استعارې، تشبېه او کنایې کارونه هم د ده د هنر غوره نندارہ ده .

۳ - د حمید د شعرونو بله ځانګړنه داده، چې هغه ته د دغې دورې د نورو شاعرانو پرخلاف کارېدلي تشبیهات ښه نه ایسي او هڅه کوي، چې ډېر نوي او ابتکاري تشبېهات او استعارې بیامومي او همدارنګه هغه تشبېه او استعارې په خپلو شعرونو کې ځای کړي، چې په پښتني چاپېریال کې دود دي او پښتانه ورسره اشنایي لري.

۴ - د حمید په شعرونو کې نه یواځې نازک خیالي، نادر تشبېهات، استعارې، مبالغې او نورې ادبي پسولنې او یا د شاعرۍ دودیزو نومونو او سېمبولونو، لکه (بلبل، آهو چشم مجنون، لیلا، پتنګ، شمه، شیرین او فرهاد) دود مونډلی دی ، بلکې د ده د شعرونو بله غوره ځانګړنه داده، چې هغه د ټولنې له ښو او بدوسره سیده اړیکې لري او د پندونو او وجیزو ترخنګ داسې شعرونه هم لري، چې د ټولنې هر وګړي ته داسې ټولنیزه لارښوونه کوي، چې بنسټ یې پر کار باندې ولاړ وي (۵: ۲۶۹- ۲۷۱).

ترڼګ څه ته وايي ؟

ترڼګ هغه ژبنی یوون دی، چې دوه یا له دوو ډېر ژبنـي یوونونـه، ویـي او تـوکي سره ونښلي او یوویی او یا یومانیز جوړښت ترې جوړ او ځانله مانا وښندي (۳: ۲۹).

ترڼګ د هغو دوو یا ډېرو (خپلواکو او ناخپلواکو) وییونو او ګړونو یو ځـای کېـده دي چې رغنده توکي يې یو له بله سره پښوییز اړیکی ولري یا د دوو یـا ډېـرو خپلواکـو او ناخپلواکو ګړونو غونډ دی، چې برخې یـې یـو لـه بـل سره پښـوییز اړیکـی ولـري. د ترڼګونو د څېړنې او لوستنې څخه داسې څرګندېږي، چې ترڼګونه د مانـا او جوړښـت له مخې بېلابېل ډولونه لري.

د ترڼګ ځانګړنې:

۱ - ترڼګ له دوو یا ډېرو خپلواکو او ناخپلواکو ګړونو او وییونو څخه جوړېږي.

۲ - په ترڼګ کې یوویی د بل تابع ګرځي.

۳ - په ترڼګ کې د وییونو ترمنځ غونډله پوهیز اړیکی ټینګېږي.

۴ - ترڼګ تر ویي پراخ او ترښتي مانا څرګندوي.

۵ - د غونډلې او ترڼګ ترمنځ توپیر او بېلوالی اړین دی (۱: ۳۹،۴۱).

د ترڼګ ډولونه:

په پښتو کې ترڼګونه لومړی په دوو ډلو وېشل کېږي، چې هـره ډلـه بیـا نـورې برخـې لري، هغه دوې ډلې دادي:

الف ـ نوموال ترڼګونه:

هغه ترڼګونه دي، چې د ترڼګ آره او بنسټېزه برخـه یـې نـوم وي او دغـه ترڼګونـه پـه غونډله کې د اینښي او په نوموالـه غونډله کې د اینښوني په برخه کې راځي.

نوموال ترړګونه دا لاندې ډولونه لري:

١ - تولي ترړګونه:

دا هغه ترړګونه دي، چې د يو نوم اړوندتيا بل نوم يا نومځري سره شوې وي. د پښتو ژبې په توليزو ترړګونو کې يو تولنومی او بل تولنوم راځي. تولنوم له تولنومي څخه وروسته راځي. جوړښت يې په دې ډول دی:

تولوييکی (د) + نوم + نوم، د + تولنومی + تولنوم: د کابل ښار

تول ترړګ د مانا له مخې د لاندې موخو لپاره راځي:

- د تول او تړاو لپاره: د ښوونځي نجونې.
- د ځانګړتيا لپاره: د کندوز ختکي.
- د ورته والي لپاره: د سترګو تور، د عقل لاس.
- د ځرګندتيا لپاره: د ازادۍ ځلی.
- د ظرفيت لپاره: د تېلو بوتل، د اوبو ګيلاس.
- د وړتوب لپاره: د دوستۍ وړ.

٢ - ستاينوم ترړګونه:

دغو ترړګونو ته، چې په عامه توګه ستاينوم ترړګونه وايي، هغه ترړګونه دي، چې د يو نوم يا نومځري د اکر ځرګنوالی د ستاينوم له لارې ځرګند او ښوول شي، لکه: ښکلی ښار، زيړ ګل....

په پښتو کې ستاينوم ترړګونه داسې جوړېږي:

(ستاينوم + نوم) (نوم + نوم) (نوم + ستاينوم) (نوم + کړول) (نوم + کړ ستاينوم) (ستاينوم + ستاينوم)

٣ - شمېر ترړګونه:

هغه ترړګونه دي ، چې له شمېر او نوم يا شمېرنوم او شمېرلي څخه رغېدلي وي. جوړښت يې داسې دی: شمېرنوم + نوم.

په پښتو ژبه کې شمېرنوم له خپل شمېرلي څخه مخکې راځي، لکه: دوه قلمونه، یو کور پینځه خونې.

۴ - کړول ترنګونه:

هغه ترنګونه دي، چې د جوړښت بنسټي او آر توکي یې کړولونه وي. دا ترنګونه د بېلابېلو ماناوو د څرګندونې لپاره له ځینو نورو وییونو (تېنګار، شمېرنوم، نوم سربلونه او اوستربلونه) سره یو ځای کېږي او ټول ترنګ یې د کړول په توګه په غونډله کې کارېږي او په لاندېنیو بڼو جوړېږي:

الف - کړول + کړول = کړول ترنګ، لکه: هلته دلته، ښکته پورته، لاندې باندې او نور.

ب - نوم + نوم = کړول ترنګ، لکه: غرونه غرونه، ځولۍ ځولۍ، کوټې کوټې، دلۍ دلۍ.

ج - ستاینوم + ستاینوم = کړول ترنګ، لکه: پټ پټ، غټ غټ، نیم نیم ، لوی لوی.

د - شمېرنوم + شمېرنوم = کړول ترنګ، لکه: پینځه پینځه، یو یو، شل شل.

ه - شمېرنوم + شمېرنوم + نوم = کړول ترنګ، لکه: یو دوه ورځې، دوه درې قلمونه.

و - ستاینوم + کړول = کړول ترنګ، لکه: ډېر نږدې، ډېر ژر.

ز - نومځری + نومځری = کړول ترنګ، لکه: څوک څوک، کوم کوم.

ح - ستاینوم + ستاینوم = کړول ترنګ، لکه: ډېر ښه، ډېر هوښیار.

۵ - تېنګار ترنګونه:

په پښتو کې دا ډول ترنګونه له دوه همغږو او همانیزو وییونو څخه رغېدلي دي. درې ډولونه لري:

۱ - چې یو ویی په ترنګ کې کټ مټ بیا راشي.

۲ - چې یو ویی په لږ بدلون سره بیا راشي. لکه: ډز ډوز، ټک ټوک، درب دروب، سم دم.

٣ - چې په دویم ویي کې دلومړي توري پرځــای (م) (پ) (ب) یــا (و) راوړل شــوي وي لکه: غنم منم، خړپړ، پټی متی.

٦ - وییک ترڼګونه:

دې ته ځکه وییک ترڼګ وایي، چې له وییکو او نومیز مرکز څخه جوړ شوي وي. پـه دې ترڼګونو کې نومیز مرکز، نومځری، ستاینوم یا کـوم بـل نـومیز ترڼـګ وي. پـه دې ډول ترڼګونو کې وییکي له نوم څخه وروسته او هـم د مخـه کارېـدای شي، لکـه: پـه کور کې، تر کابل پورې او نور.

ب - کړ ترڼګونه:

هغه ترڼګونه دي، چې ستره مرکزي او آره برخه یې کړونـه وي. دغـه ډول ترڼګونـه تـر ډېره په غونډله کې د اینبوني برخه جوړوي.

کړ ترڼګونه پښوییزه مانا هم څرګندوي او په ځانګړې توګه یوه غونډله هم ګڼل کېدای شي.

په پښتو کې کړ ترڼګونه په لاندې ډول جوړېږي:

- نوم + کړنومی = کړ ترڼګ، لکه: کتاب لوستل، لیک لیکل، په لار کې درېدل.
- کړنومی + کړ = کړ ترڼګ، لکه: غوښتل کوم، رتل کوي او نور.
- کړول + کړ ترڼګ = کړ ترڼګ، لکه: عادلانه چلند کول.
- نوم + مرستیال کړ = کړ ترڼګ، لکه: انسان یم.
- ستاینوم + مرستیال کړ = کړ ترڼګ، لکه: جوړ یم.
- کړول + مرستیال کړ = کړ ترڼګ، لکه: لرې یم، نږدې یم.
- شمېرنوم + مرستیال کړ = کړ ترڼګ، لکه: یوه ده، دوې دي.
- د یم، وم. مرستیال کړونه + کړونه یا کړ ستاینوم = کړ ترڼـګ، لکـه: راغلـی یـم ګرځېدم، راغلی وم، ګرځېدلی یم .

لنډه دا، چې په دې برخه کې د پښتو ژبې ډېر کړوال جوړښتونه کړ ترړنگونه جوړولای شي. د ټولو بېلگې راخېستل د دې لنډې تنگې لیکنې په اډانه کې نه ځایېږي (۱۲: ۷۴ - ۷۷).

غونډ یا ترړنگ د غونډلې د آرو او یا مرستیالو ټوکونو (نومونو، کړونو او ستاینومیزو کړولونو او وییکو) یو سست وییغونډ یا ترړنگ دی. داسې چې رغنده توکي یې سره خپلمنځي پښوییز اړیکي پالي او شننوړ دي، خو د غونډلې دننه د یوه یوون یا واحد(Syntagm or Tagmeme) په توگه ناشنوني بلل کیږي او له نورو رغندو یوونو(Components or Constituents) سره یې پښوییز تړاو شتوالی لري. نه دا چې هر رغنده ټوک یې دغه راز اړیکي پرکار واچوي. په بله ژبه، یو عادي غونډ له ترښتي پلوه یو سست ترړنگ بلل کیږي او هغه دا، چې رغنده ټوکونه (گړونه، وییونه او وییکي) یې په خپل منځ کې د پښوییز ادلون بدلون منونکي دي. هم د نحوي توکو لکه تولي سربل (د) او داسې نورو توکو د خوندیینې او هم د اوډون او سمون، پېر د اغېزمننې له مخې. هر گوره، خج،آهنگ او نور بشپړاند " نازنځیري " توکونه یې سره زیاتره یووالی لري او پر هماغه غوره یا وروستي توک یې ټیکاو مومي (٦: ٢٢٣).

په شعري کره کتنو کې دا زیاته دود ده، چې وایي: پلاني شاعر خورا ښه او ښکلي ((ترړنگونه)) هم کارولي دي. په دغه تړاو استاد اسدالله غضنفر لیکي: په ترړنگ کې چې له دوو یاتر دوو له ډېرو وییونو رغېږي، یوه نوې مانا مومو. ترړنگونه پر خلورو ډولونو وېشلای شو: تولي، ستایوال، ورتنیز (تشبیهي)او استعاري ترړنگونه. د پښتو پخوانو شاعرانو به ترړنگونو ته ډېر پام نه کاوه. په شلمه پېړۍ کې د هنر دې اړخ ته پام وشو.

دلته ((ترړنگ)) د وییپوهنې او بیا وییرغاونې(Word formation) په جاج نه، بلکې د غونډله پوهنې(نحوې) په جاج کارول کېږي او له همدې اړخه د ژبپوهنې په نومونه کې نحوي ترړنگونه ، په بله وینا، غونډونه (عبارتونه، فقرې) بلل کېږي. په دې توگه لومړي ډول ته (غونډله پوهیز یا نحوي ترړنگ) ویل کېږي او دویم ډول ته (وییز

یا لغوي ترنګ). لومړی ډول د دوو یا زیاتوویبونو او ویکو یوه ټولګه ده، چې په یوه غونډله کې د یوه شننوړ او ونجوړ یوون په توګه یو ټاکلی پښوییز او مانیز چار پرځای کوي، په نورو ټکو، یوه غونډله لومړی پر غونډونو وېشل کېږي، لکه (سپوږمۍ او زمری، د مازیګر پر درېو بجو په ملي بس کې، یوه ستراددبي بنډارته، ځي) غونډله. وییز ترنګ بیا له دوو یا زیاتو وییونو او ویکو څخه داسې رغښت مومي، چې نه یواځې شننوړ او ونجوړ نه وي ، بلکې پر دې سربېره یې بېلابېل رغنده توکي له غونډله پوهیز پلوه د یوه یواځیني خج او (پېر: آر، اوښتی) اړوند تابع وي، لکه: پیمخی، سترګوړی، تمځی، ژبپوهنه، کتنپلاوی، له اوښکو ډکې سترګې، ژب- ساپوهنه....

په دې لړکې شعري غونډونه یا ((ترنګونه)) هم د نورو غونډونو غوندې تر هرڅه له مخه د اړوندو غونډلو د یوونونو په توګه، د جولیز، غونډله پوهیز جوړښت، چار و مانا له مخې په پام کې نیول کېدای شي او هله بیا له شعري- هنري پلوه ؛ او داچې له آره غونډله پوهیز غونډونه دي، نو اړینه نه ده، چې تل دې رغنده توکي یواځې خپلواک وییونه وي، بلکې لکه له مخه چې ورته نغوته وشوه، ناخپلواک هغه (وییکي: د، له، په، پر، تر، سره، لاندې باندې، کې، پورې، پسې او...) هم رانغښتای شي او په دې لړ کې د همدغو څلورګونو ترنګونو((توالی اضافات)) چې په دودیزو ادبي فنونو کې ویار بلل کېده، اوس یې په ښېګڼو کې شمېرل کېږي. دادی، دلته یې څو بېلګې وړاندې کېږي:

برندې سترګې، لکه: د اسمان ستوري، په سترګو سترګو کې، پر بلۍ ولاړه نجلۍ، سر پر زنګون، د وختو د اسوېلو تر سیوري لاندې، پر وربښمین بستر د ناز، د لمر په څنو کې، د ښېراز باور ګوګل، د ګل او بلبل په ژبه، بادونو لولنګرو، د کرلو پرندو وینو د ګلمینو ګلبڼونه د سپېدو د خزانزمولو سپېدارونو شنه خوبونه.

هرګوره،استاد غضنفر شعري ترنګونه په څلورو نومېرلو(مشخصو) ډولو تولي، وصفي تشبیهي او استعاري هغو کې رالنډ کړي، چې هغه هم د نوموالوغونډونو یوه برخه

رانغاړي.که نه یواځې په نوموالو کې تولي داپېنځه ډوله دي همداسې توصیفي، بدلي، عددي، متممي قیدي... او ورپسې فعلي ډولونه هم همداسې دروا‌خله .
په هره توګه، د ترږګونو هماغه ساده ډولونه هم ، چې د دوو خپلواکو(ساده یا مشتقو) وییونو تر څنګ له تولي(د) پرته پکې نور وییکي دومره برخه نه اخلي، تر یووستویو وییونو څخه د شعري انځورونو (اېماژونو)، په تولیز جاج، د ((شعریت)) لپاره ښه ترا لیاره هوارولای شي او د ژبني پوتنسیال د آر له مخې یې زېږون ناپایه (نامحدوده) دی، په بله وینا، شاعر یې له اړتیا سره سم هرڅومره ډېر رامنځته کولای شي او هېڅکله له تنګسې سره نه مخا مخېږي.
استاد غضنفر هڅه کړې، د جیلاني جلان د شعر دارزونې په ترڅ کې هماغه څلور ډوله رابرسېره کړي:

د مازیګر په (پر) زېړ جبین به ګل ګل وکړل شي
دا څوان ګودر به اوس د نجونو په مذهب غرېږي

دلته زیړ جبین وصفي ترږنګ دی. د مازیګر زیړ جبین، استعاري ترږنګ دی. څوان ګودر هم استعاري ترږنګ دی. مانا داچې ګودر له انسان سره تشبېه شوی دی. بیا د تشبېه یو اړخ یانې مشبه به (چې دلته انسان دی) حذف شوی او یواځې یوه ځانګړنه یانې ځواني یې یاده شوې ده او د نجونو مذهب تولي ترږنګ بولو، ځکه مذهب تولنوم او نجونې تولنومی دی.
متل دی وایي، د شال او شړۍ نه سره کېږي، خو په پکتیا کې شړۍ ښکلی او رنګین لباس دی. جلان وایي:

دې ته سور غرور هم ګونډه ماتی شي، سجدې کوي
دا د پسرلي شړۍ د لمر په (پر) اوږو ښخه ده

دلته سور غرور وصفي ترږنګ (غرور) ستایلی او (سور) ستاینوم دی او د لمر اوږې استعاري ترږنګ دی. د ښاغلي جلان شاعري له استعاري ترږنګونو مالامال ده. د ده ترږګونه کابو ټول د ده خپل دي.

ژبپوهان وايي، چې په ځينو ژبو کې ترنګ جوړول اسانه دي، خو په ځينو نورو کې اسانه نه دي.... جلان د نوي انځور د جوړولو لپاره، د مانا رسولو لپاره او بل د تناسب لپاره ترنګونو ته مخه کوي. دی وايي:

زمورږ د کلـي له اسـمانه هـر چا کړې ولـجـه
چا ترینه لپو کې سپوږمۍ وړې چا لمر وړی دی

دلته د کلي د اسمان ترنګ په وروستي مسره کې له لمر و سپوږمۍ سره هم د انځور په بشپړولو کې برخه اخلي، هم تناسب زېږوي.

دا خبره چې ترنګ جوړول په پښتو کې د نورو ژبو اوبیا پارسي هومره اسان نه دي، سمه نه ده، ځکه، لکه پر همدې څېرکې چې رڼا واچول شوه، هره ژبه ((یو ناپایه رغاونیزه وړتیا او پوتنسیال لري))، دا بېله سکالو ده، چې په پښتو او بيا شعر و ادب کې له دغه پټ توانه د نورو او بیا پارسي ژبې هومره کار یا ګټه اخېستل شوې نه ده! (۷: ۲۶۱- ۲۶۴).

د حمیدبابا د ژوند، شاعرۍ اوشاعرانه ترنګونو په اړه د لنډو مالوماتو له وړاندېينې وروسته خپلې اصلي موضوع ته ورځو چې په لاندې ډول ده:

د حمیدبابا په شعرونو کې شاعرانه ترڼگونه

- وږې سترگې:

په پورتني ستاینوم ترڼگ کې (وږې) ستاینوم او (سترگې) ستایلی دی. همدارنگه د (عشق می) په تول ترڼگ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی (مـی) تولنـوم دی. پـه لاندې بیت کې یې وگورئ :

که مې نه زمویې په ویار د وږو سترگو
می د عشق په میخانـه کې د مجاز را

(۱:۱۰)

- د عشق کبر وناز:

په پورتني تول ترڼگ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (کبر و ناز) تولنوم دی. په لاندې بیت کې کارېدلی:

چې مې نه وي سرکوزی چاته بې ښکلو
لـه دولتـه د عشـق هسې کبـر و نـاز را

(۱:۱۰)

- د گړۍ مېلمنه ورا:

په پورتني ترڼـگ کـې (مېلمنـه ورا) سـتاینوم ترڼـگ دی (مېلمنـه) سـتاینوم او (ورا) ستایلی . تول (د گړۍ میلمنه ورا) تول ترڼگ دی (د) تولوییکی (گړۍ) تولنومی او (مېلمنه ورا) تولنوم دی.

بېهوده یې زړه ترې په ډنگ ډنگ پورې
د گړۍ میـلـمنـه ورا ده دا دنیـــــــــا

(۴:۱۰)

- د هلکو تماشا:

په پورتني تول ترڼگ کې (د) تولوییکی (هلکو) تولنومی او (تماشا) تولنوم دی.

مناسب نه دي ورتله د لويو خلکو
د هلکـــو تمـــاشـــا ده دا دنيـــا
(۱۰:۴)

- د عشق لاعلاج رنځ:

په پورتني ترنګ کې (لاعلاج رنځ) ستاينوم ترنګ دی (لاعلاج) ستاينوم (رنځ) ستايلی . همدارنګه ټول ترنګ تولي هم دی (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (لاعـلاج رنـځ) تولنوم دی. بلخوا، تشبيهي ترنګ هم دی (عشق) مشبه (لاعلاج رنځ) مشبه به او ګډه ستاينه يې (د درملنې او علاج نشت) دی. د (بې دمه بـې جـړې منګـور) پـه سـتاينوم ترنګ کې (بې دمه او بې جړې) ستاينومونه او (منګور) ستايلی دی.

دا د عشق لاعلاج رنځ دی نه پوهيږم
کـه بې دمـه بې جړې منګور دی دا
(۱۰:٦)

- د عشق سياه رويي:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (سياه رويي) تولنـوم دی. د (کنبېدې انځور) په تول ترنګ کې (د) تولوييکی (کنبېدې) تولنومی (انځور) تولنوم دی.

هېڅ د عشق په سياه رويۍ مه زهيرېږه
د ژونـدون د کنبېدې انځـــور دی دا
(۱۰:٦)

- د زړګي ولې / ولۍ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (زړګی) تولنومی (ولې/ ولۍ) تولنوم دی. بيا يو اسـتعاري ترنـګ دی (زړګـی) قرينـه (ولـې) مسـتعارمنه (رګونـه) مسـتعارله او (اوږدوالی، نری والی، جوړښت او نهيلي) وجه جـامع ده. بلخـوا (د زړګـي ولـۍ ريبل کېدل) يوه ګړنه او مانا يې (زحمت او کـړاو رسـېدل او ځورېـدل) ده. د (کـړې وروځې) ستاينوم ترنګ کې (کړې) ستاينوم او (وروځې) ستايلی دی.

چې ربېي مې بې صرفې د زړګي ولې
کړې وروځې دي د يار که لور دی دا
(٦:١٠)

- د عشق تور:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (تور) تولنوم دی. د (سرتورېدل) ترڼګ يوه ګړنه ده، د نارينه لپاره د (سپکاوي او شرمېدو) او د ښځو لپاره د (کونډتون او بې مېړه کېدو) په مانا ګړنه، بلکې انګېرنه ده.

که سرتور د عشق په تور شې مه شرمېږه
د جمله بديو سر پېغور دی دا
(٦:١٠)

- د تورو سترګو تور:

په پورتني ترڼګ کې (تورې سترګې) ستاينوم ترڼګ دی (تور) ستاينوم او (سترګې) ستايلی ، ټول ترڼګ تولي دی (د) تولوييکی (تورې سترګې) تولنومی او (تور) تولنوم دی. بلخوا دا يوه ګړنه او مانا يې (محبوب ، معشوقه) ده، ورسره بله انډول ګړنه (د زړه سر) ده.

چې په تله د سر و مال راخخه نه ځي
واقعي د تورو سترګو تور دی دا
(٦:١٠)

- د عشق غم:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (غم) تولنوم دی.

چې يې زه له خپله غمه په امان کړم
د عشق غم دی که زما غمخور دی دا
(٦:١٠)

- د ښادۍ ستړپوښي:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی(ښادي) تولنومی او (ستړپوښي) تولنوم دی.

داچې ژاړي عاشقان ظاهر له غمه
د ښادۍ ستریوښې کاندي په دا
(۷:۱۰)

- بې وياره وصل:

په پورتني ستاينوم ترڼګ کې(بې وياره) ستاينوم او (وصل) ستايلی دی.

چې ادا کا ورته یار بې وياره وصل
ځان ته وايي عاشقان هاله ادا
(۷:۱۰)

- د سمنبر پتون:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (سمنبر) تولنومی (پتون) تولنوم دی، بيا ورتنيز يا تشبيهي ترڼګ دی (سمنبر) مشبه به (پتون) مشبه (جوړښت ، پوستوالی او نرموالی) يې ګډه ستاينه ده.

چې شبنم غوندې شبګير واخېست په سر ما
کېښود سر په پتانه د سمنبر ما
(۸:۱۰)

- د حاتم د داد نغمه:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (حاتم او داد) تولنومی او (نغمه) تولنوم دی. بلخوا، استعاري ترڼګ هم دی (داد) قرينه (نغمه) مستعارمنه او (اوازه، خبرې) مستعارله دی. په همدې بيت کې د (غوږ درنول) ګړنه هم شته چې مانا يې (د چا خبره اورېدل) ده. د (صبر ګوهر) په تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (صبر) تولنومی او (ګوهر) تولنوم دی. بلخوا، يو استعاري ترڼګ هم دی (صبر) لوازم (ګوهر) مستعارمنه او (ثمره) مستعارله دی.

د حاتم د داد نغمه وربانـدې ناورم
چې درانه کړه غوږ د صبر په ګوهر ما
(۸:۱۰)

- د زړه سترګې:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (زړه) تولنومی (سترګې) تولنوم دی. بلخوا (د زړه په سترګو کتل) ګړنه او مانا يې (په ځيرتيا او دقت چاته ليدل) ده. همدارنګه د (زړه سترګې کېدل) بله ګړنه او مانا يې (ډېر ګران او خوږ، زړه ته رانږدې) ده.

د دنيا اهل دول د زړه په سترګو
واړه وليد تر ځان خوار و بتر ما
(۸:۱۰)

- د ترکو منګولې:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (ترکو) تولنومی او (منګولې) تولنوم دی. د (پر زړه ګرځېدل) ترنګ ګړنه او مانا يې (يو څوک يا څه يادېدل، په زړه وريدل) ده. د (حنا لړمون) شعري ترنګ کې (د) تولوييکی (حنا) تولنومی (لړمون) تولنوم دی.

چې منګولې يې د ترکو په زړه ګرځي
ډوب په وينو کې لړمون شه د حنا
(۹:۱۰)

- د عشق تېغ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (عشق) تولنومی (تېغ) تولنوم دی، بيا تشبيهي ترنګ دی (عشق) مشبه او (تېغ) مشبه به او ګډ صفت يې (ځورول، په عشق او تېغ خوږلو کې د يو درد احساس) دی. په لاندې بيت کې يې وګورئ :

چې يې زړه د عشق په تېغ سوری شي
لاعلاج کاندي فرياد لکه سُرنا
(۹:۱۰)

- د خلوت عزيزان:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (خلوت) تولنومی او (عزيزان) تولنوم دی. د (ترکو کندی) بل تول ترنګ دی چې (د) تولوييکی (ترکو) تولنومی او (کندی) تولنوم

دی. (زړه بدېدل) ترنګ ګرنه او مانا يې(خپه کېدل، خوا بدېدل) ده.

د خـلـوت له عزيزانو مې زړه بد شـه
ځـان مې وشـماره د ترکو په کندي بيا
(۱۰: ۹)

- د خط اره:

په پورتني تول ترنګ کـې (د) تولـوييکی (خـط) تولنـومی او (اره) تولنـوم دی. بلخـوا تشبيهي ترنګ هم دی (خط) مشبه (اره) مشبه به او ګډ صفت يې (يو ډول اغېز) دی.

وابه نه ړوم نــور مـخ له ســاده رويـو
که د خط اره مې کنبېږدي په تندي بيا
(۱۰: ۱۰)

- د عشق طاعونی رنځ:

په پورتني تول ترنګ کې (طاعوني رنځ) ستاينوم ترنګ (طـاعوني) سـتاينوم او (رنـځ) ستايلی دی (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (طاعونی رنځ) تولنـوم دی. همدارنګـه تشبيهي ترنګ هم دی (عشق) له (طاعوني رنځ) سره تشبېه شوی دی (عشـق) مشـبه (طاعونی رنځ) مشبه به او (سرغړونه، ظلم او ستم) يې ګډ صفت دی.

چې د عشق طاعونی رنځ د حميد مل شـو
ژر به ښــخ شــي په هدېـره کې د ماشــو
(۱۰: ۱۰)

- د ګوندۍ زړه:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوييکی (ګوندي) تولنومی او (زړه) تولنوم دی.

د ګوندۍ زړه ترينه صبر کړه ناصحه !
له رندۍ سره حـميد شه سوګندي بيا
(۱۰: ۱۰)

- د زړه سترګې، غوږ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (زړه) تولنومی (سترګې او غوږ) تولنوم دی.

ستـور د سر په سترګو غوږ اروي هم ویني
سترګې غــوږ بـویــه د زړه بینــا شنـــوا
(۱۰: ۱۱)

- د ښو غشي:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (باڼه/ ښو) تولنومی (غشي) تولنوم دی. همدارنګه دا ترنګ تشبیهي هم دی (باڼه) مشبه (غشي) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت او د اغېز یورنګي) ده. په لاندې بیت کې یې وګورئ :

که هر څو د ښو غشي کاږه ولي
یو له نښې د زړه نه درومي خطا
(۱۰: ۱۲)

- توبه په تندي ماتېدل:

د پورتنۍ ګړنې مانا (ټکنی کېدل، پښېماني) ده.

سـل توبـې کا د زاهـد په تنـدي ماتې
پرې به نږدي په شېخۍ کې څه ویسا
(۱۰:۱۲)

- د محبت ناکردې:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (محبت) تولنومی او (ناکردې) تولنوم دی.

ناکــردې د محبت وسـړي ورکـا
په یوه لاس کې پیاله په بل همسا
(۱۰: ۱۳)

- د پرهېز پخته کاري:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (پرهېز) تولنومی او (پخته کـاري) تولنـوم دی. د (عشق زورمندي) تول ترنګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (زورمندي) تولنوم دی.

د پرهـېز پخته کاري شوه راته خامــه
چې د عشق په زورمندۍ شوم شناسا
(۱۰: ۱۳)

- کاږه بانه:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (کاږه) ستاینوم او (بانه) ستایلی دی.

زه حمید کږو بڼو د ترکو غوخ کړم
په نصیب خطا ګـوزار لګي رسـا
(۱۰: ۱۳)

- آهو چشمه:

پورتنی ترنګ یو ترښتي ستاینوم دی، پـه لانـدې بیـت کـې سـتایلی هغـه دی، چـې د هوسۍ په څېر سترګې لري. خو په شعر کې څرګند نه ښکاري. (زړه وړل) ترنګ پکې ګڼه او مانا یې (مینېدل او عاشقېدل) ده.

آهو چشمو وړی زړه که هر څو بولم
نــه منــي لکه آهــو بلــل زمــا
(۱۰: ۱۳)

- ګلرخ:

په پورتني ترنګ کې (ګل) له (رخ) سره تشبیه شوی (ګـل) مشـبه بـه او (رخ) مشـبه دی. ګډ صفت یې (ښکلا) ده .

چې مې خیال شته د ګلرخو په لېمو کې
ګـل ته نـه دي مناسب کــتـل زمــا
(۱۰: ۱۴)

- د ښکليو در:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (ښکلیو) تولنومی او (در) تولنوم دی.

مرم که ژوم سر زما، د ښکلیو در دی
نشته ځـــای بـې دغــه دره بـل زمـا
(۱۰: ۱۴)

- د ناکسو تروه ترخه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (ناکس) تولنومی او (تروه، ترخـه) تولنـوم دی. ددې ترځنګ (تروه ترخه وړل) ګړنه او مانا یې (سپکې سپورې اورېـدل، سرکـوزول) ده.

وړې هزار تروه ترخه د ناکسانو
وایه ولې په یوه نمرۍ حلـــوا
(۱۰: ۱۵)

- لاس تر زنې کېدل:

د پورتنۍ ګړنې مانا (نهیلی، هېښ و حیران) ده. همدارنګه د (لاس اوږدول) ګړنې مانا (ګدایي او سوالګري) ده.

چې په سوال اوږدوې لاس چاته حمیده !
ښــــه یــې وږی لاس تــر زنــې بې نـــوا
(۱۰:۱٦)

- بې ادبه سترګې:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (بې ادبه) سـتاینوم او (سـترګې) سـتایلی دی. د(وچـولی غوټه کول) ګړنې مانا (قهرېدل، غوسه کېدل، تندی تریوول) ده.

هېڅ ادب مې بې ادبه سترګې ناخلي
که هر څو کا وچولی غوټه ادیب زما
(۱۰: ١٦)

- د غم لښکر:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوییکی (غم) تولنومی (لښکر) تولنـوم دی . پـه لانـدې بیت کې یې وګورئ :

لا مې زيات آه و فرياد د غم لښکر کا
خيـژوي مې فوج په سر زما نقيب زما
(۱۰:۱٦)

- شوخې سترګې:

پورتنی تړنګ ستاینومیز دی (شوخې) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

سل ځله که قصد و کا نرګس په شوخو سترګو
هيڅ په هسکـو سترګو کتی نه شي روی د ستا
(۱۰:۱۸)

- هسکې سترګې:

په پورتني ستاینوم تړنګ کې (هسکه/ هسکې) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

سل ځله که قصد و کا نرګس په شوخو سترګو
هيڅ په هسکو سترګو کتــی نه شي روی د ستا
(۱۰:۱۸)

- د هجر غم:

پورتنی تړنګ تولي دی (د) تولوييکی (هجر) تولنومی او (غم) تولنوم دی.

غم د هجـــر کـړم په وصـل کې ناښاده
په شربت کې خاورې مه شه ګول د چا
(۱۰:۲۰)

- د مینې ډول:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوييکی (مینه) تولنومی او (ډول) تولنوم دی.

له وهلو به يې شرم څوک په څـه کا
چې په غاړه شــي د مينې ډول د چــا
(۱۰:۲۰)

- سرې شونډې:

پورتنی تړنګ ستاینومیز دی(سرې) ستاینوم او (شونډې) ستایلی دی.

دغه واړه ستا دسرو شونډو اثر دی
چې مونده شـي د یمن تاثیـر له مـا
(۱۰: ۲۱)

- د وفا رسم و رواج:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (وفا) تولنومی او (رسم و رواج) تولنوم دی.

څو ترې زه رسم رواج د وفا غواړم
هومـره لا راسره کړي جور و جفـا
(۱۰: ۲۱)

- سپین لېمه:

په پورتني ستاینومیز ترنګ کې (سپین) ستاینوم او (لېمه) سـتایلی دی. د دې ترخنـګ د (لېمه سپینېدل) ګرڼې مانا (ډېره ژړا) ده. همدارنګه (توره بلا) ستاینومیز ترنـګ چـې (توره) ستاینوم او (بلا) سـتایلی دی. همداسـې د (تـوره بـلا پسـې کـول) ګرڼـې مانـا (څوک بې ارزښته ګڼل او بې پروایي) ده.

ما په یار پسې لېمه په ژړا سپین کړه
یار په ما پسـې کـــوي تــوره بـــلا
(۱۰: ۲۲)

- د قامت خیال:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (قامت) تولنومی او (خیال) تولنوم دی.

هسې زه ستا د قامت په خیال تکیه کړم
هر نفـس لکه مـوسـی کـــړه په عصـــا
(۱۰: ۲۲)

- د عشق رنځ:

پورتنی ترنګ تولي دی(د) تولوییکی (عشق) تولنومی (رنځ) تولنـوم دی، بیـا تشـبیهي ترنګ دی (عشق) مشبه او (رنځ) مشبه به، ګډ صفت یې (ځپل، ځـورول او رنځـول) دی. په لاندې بیت کې یې وګورئ :

نــه ســـړی ورځــنــې مـري نه تــرې رغـېږي
خدای دې څوک د عشق په رنځ مبتلا نه کا
(۱۰: ۲۳)

- د هجر اندېښنه:

په پورتني تول ترړنګ کـې (د) تولـوییکی (هجـر) تولنـومی او (اندېښـنه)تولنوم دی. د (خوا له کمره لګېدل) ګړني مانا (څورېدل او کړېدل) ده.

اندېښنه چې دې د هجر را په خوا شي
پـه هیبت مـې لـــه کـمـره لګـــي خــوا
(۱۰: ۲۳)

- د خوبانو د خندا لایق:

پورتنی ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی (خوبان او خندا) تولنومی او (لایق) تولنوم دی. همدارنګه د (له عقله پلی) ګړني مانا (ډېربې عقل) ده. بلخوا، یو وییکترړنګ (ارتبـاطي ترکیب) هم دی، ځکه له آداتو څخه (له) پکې راغلی دی.

د خوبانـو دخنـــدا لایـــق به نه شــي
څو يې عشق له عقله پلی جولانه کا
(۱۰: ۲۳)

- د حسن ازبکي:

پورتنی ترړنګ تـولي دی (د) تولـوییکی (حسـن) تولنـومی او (ازبکـي) تولنـوم دی. د (صبر خونه تالا کېدل) ترړنګ ګړنه او مانا یې (د بې صبرۍ پای او انتها، نه صبرېدنه، بې صبري) ده. د (صبر خونه) بل شعري تول ترړنګ دی (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (خونه) تولنوم دی.

نه منمـه ازبکــي د هغـه حــسن
څــو زما د صبر خونه تالا نه کا
(۱۰: ۲۳)

- د خط توره:

پورتنی ترڼګ تولي دی (د) تولنومی (خط) تولنومی (توره) تولنوم دی، بیا تشبیهي ترڼګ دی (خط) مشبه او (توره) مشبه به ، ګډ صفت یې (اغېز او پرېکول) دی.
په لاندې بیت کې یې وګورئ :

شا به نه کا مفت خواره وښکلي مخ ته
څو یې سر ته د خط توره تر ملا نه کا

(۲۴:۱۰)

- د صبر قلا:

په پورتني شعري تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (قلا) تولنوم دی.

محبت اسماني تندر دی ناصحه !
هېڅ فایده ورته د صبر قلا نه کا

(۲۴:۱۰)

- د آه اور:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (آه) تولنومی (اور) تولنوم دی، بیا تشبیهي ترڼګ دی (آه) مشبه او (اور) مشبه به ، ګډ صفت یې (ګرموالی) دی. په لاندې بیت کې یې وګورئ :

که هر څو یې لوغړن د آه په اور کړي
څوک به خوی له (د) کج روۍ د فلک نور کا

(۲۴:۱۰)

- د شبنم ژړا:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (شبنم) تولنومی (ژړا) تولنوم دی، همداسې یو استعاري ترڼګ هم دی (ژړا) قرینه (شبنم) مستعارمنه او (څاڅکی) مستعارله (نرمښت او رنګ او نور جوړښت) یې د جامع وجه ده. په لاندې بیت کې یې وګورئ:

یو د بل په درد و غم خوښ و خرم کا
د شـبنم په ژړا ګل په خنـدا خـور کا
(۱۰: ۲۴)

- د ټګۍ شنه نمري:

په پورتني ترنګ کې (شنه نمري) ستاینوم ترنـګ دی (شـین/ شـنه) سـتاینوم (نمـري) ستایلی دی. همداسې تول ترنـګ هـم دی (د) تولـوییکی (ټګـۍ) تولنـومی او(شـنه نمري) تولنوم دی. د دې ترخنګ (د ټګۍ شنه نمري اغوستل) یـوه ګړنـه او مانـا یـې (مکر حیله، دروه، درغلنه) ده. بله ګړنه (بـرګ و بـور کېـدل) ده، مانـا یـې (رعـب او هیبـت غورځـول) ده. د دې ترخنـګ (خړکېـدل) بلـه ګړنـه او مانـا یـې (ګرمېـدل او ملامتي) ده.

کـلـه واغـونـدي شنــه نمـري د ټــګۍ
کله خړ شي ځان له قهره برګ و بور کا
(۱۰: ۲۴)

- د مظلوم اوښې:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (مظلوم) تولنومی او (اوښې)تولنوم دی.

چې یې ختې د مظلوم په اوښو کېږي
دغـه کــور به زمــانه د ظالم ګـور کا
(۱۰: ۲۵)

- زړه تورول:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (اړیکی پرېکول، بدول ، زړه مړېـدل) ده. همدارنګـه (مخ بل لور ته کول / مخ اړول) بله ګړنـه ده چـې مانـا یـې (بـې وفـایي، ناپـامي، بـې پروایي) ده.

یو دې زړه زمـا له بله لـوریه تـور کا
بیا دې مخ زما له لوري په بل لور کا
(۱۰: ۲۶)

- سر تورول:

پورتنی ترېنگ یوه گړنه او مانا یې (سوال او زاري کول) ده.

خلاص دې نه کړم د رقیب له سر درده
که هـــزار ځله مې سر درته سرتـور کا

(۱۰: ۲٦)

- هجر منګور:

پورتنی ترېنگ تشبیهي دی (هجر) مشبه او (منگور) مشبه بـه، گـډ صـفت یـې (اغېـز، رنځول او ځورول) دی. د (پر زړه منګور لګیا کول) ترېنگ ګړنه او مانا یې(ځـورول او کړول)ده.

څه به رنگ زمـا په ځـای وي سمنبـره
چې لګیا مې دې په زړه هجر منګور کا

(۱۰: ۲٦)

- سترګې سوځېدل:

پورتنی ترېنگ یوه ګړنه او مانا یې (ډېره کول، شرمېدل ، ډارېدل او وېرېدل) ده.

چې پرې سوې را څخه سترګې د غمازو
غـم دې زوم زمـــا لــه دلــه هغه زور کا

(۱۰: ۲٦)

- د ښه مخ همای:

په پورتني ترېنگ کې د (ښه مخ) ترېنگ ستاینومیز دی (ښه) ستاینوم او (مـخ) سـتایلی دی. بلخوا، دا ترېنگ تـولي هـم دی (د) تولـوییکی (ښـه مـخ) تولنـومی او (هـمای) تولنوم دی. همدارنګه یو استعاري ترېنگ هم دی (همای) مستعارمنه (اغېـز او ښـکلا) مستعارله او (ښه مخ) قرینه ده.

د ښه مخ همـــای هالـه کا په چا سیوری
چې شهپر د خط و خال راوړي پرواز کا

(۱۰: ۲۷)

- د ترکو جادو:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (ترکو) تولنومی او (جادو) تولنوم دی.

چې د ترکو په جادو ړانده کانه دي
بېهـوده ورته ناصـح د پنـد اواز کا

(۱۰: ۲۷)

- ترېښو لاندې ښاخونه پرې کول:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان زیانمنول، خپلې پښې وهل) ده. بلـه ګړنـه (پـه زړه نهالول) ده چې مانا یې (غوښتل، منل، لورول) ده.

پرېکوي تر خپلو پښو لاندې ښاخونه
چې بدي د عزیزانـو په زړه نهـال کا

(۱۰: ۲۸)

- د برېښنا په رڼا ستن پېیل:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (ناشونی کار کول، ستونزمن کار کول) ده.

نا لایق چې لایقت په نسب غـواړي
د برېښنا په رڼا ستن پېیي جنجال کا

(۱۰: ۲۹)

- د مهر مخ:

په پورتني شعري تول ترنګ کې(د) تولوییکی (مهر) تولنومی (مخ)تولنوم دی. بل تـول ترنګ د (میني رنځ) دی. (د) تولـوییکی (مینـه) تولنـومی (رنـځ) تولنـوم دی. بلخـوا، تشبیهي ترنګ هم دی (مینه) مشبه او (رنځ) مشبه به، ګډ صفت یې(خوږوالی، ښکلا) دی. په لاندې بیت کې یې وګورئ :

بیانګار د مهر مخ راته ښکاره کا
بیا یې رنـځ زما د میني دوباره کا

(۱۰: ۳۰)

- د سکون اوم تار:

په پـورتني تړنـګ کـې (اوم تـار) سـتاینوم تړنـګ دی (اوم)سـتاینوم (تار)سـتایلی دی.همدارنګه (د) تولوییکی (سکون) تولنـومی (اوم تـار) تولنـوم دی. د دې ترځنـګ (په اوم تار ګنډل/ په خام تار تړل) تړنګونه ګڼنې دي چې مانـا یـې (بـې پـایلې چـار، ناسم حالت کې پرېښوول) ده.

چې ګنډلی د سکون په اومه تار وو

هغـــه زخـم مې یې بیـا پاره پاره کا

(۱۰: ۳۰)

- خونخوار خیال:

په پورتني ستاینوم تړنګ کې (خونخوار) ستاینوم (خیال) سـتایلی دی. د دې ترځنـګ (زړه د مینې فواره کول) ګڼنه او مانا یې (ډېره مینه ورکول، په مینه کې ډېـر اخـلاص) ده. د (مینې فواره) هم شعري تول تړنګ دی چې (د) تولوییکی (مینه/ مینې) تولنومی او (فواره) تولنوم دی.

خونخوار خیال د یار رانغی تماشو لـه

کــه مې زړه ورتــه د مینې فــواره کا

(۱۰: ۳۱)

- لاس پر سر راکښل:

پورتنی تړنګ یوه ګڼنه او مانا یې (مهرباني، زړه سوی، پالنه) ده.

هېڅ مې یار د مهر لاس په سر رانه کېښ

کـه هر څـو مې ځان یتیم او بېـچـاره کـا

(۱۰: ۳۱)

- ګلګونې جامې:

په پورتني تشبیهي تړنګ کې (ګل) مشبه به (ګون) د تشـبیه تـوری او (جـامې) مشـبه دی. همداسـې (ګلګـونې جـامې اغوسـتل) ګڼـه او مانـا یـې (پسـولل، ښـکلنه او سینګارونه) ده.

چې گلگونې جامې اغوندي سواري کا
خدای زده بیا د چا د قتل تیاري کا
(۱۰: ۳۲)

- د سرو شونډو رموز:

پورتني ترڼگ تولي دی (د) تولوییکی (سرې شونډې) تولنومی او (رموز) تولنوم دی. د ټول ترڼگ په منځ کې بل ستاینوم ترڼگ (سرې شونډې) دی. (سرې) ستاینوم او (شونډې) ستایلی دی.

په رموز یې د سرو شونډو نه پوهېږم
چې د خلکو غمخواري کا خونخواري کا
(۱۰: ۳۲)

- د اوښو دُر:

په پورتني تول ترڼگ کې (د) تولوییکی(اوښې) تولنومی (دُر) تولنوم دی، بیا تشبیهي ترڼگ هم دی (اوښې) مشبه او(دُر) مشبه به، گډ صفت یې (جوړښت او روڼوالی) دی. په لاندې بیت کې یې وگورئ :

تویوي په لپو لپو دُر د اوښو
چې مې سترگې د دیدن خریداري کا
(۱۰: ۳۲)

- بې لاسه لستوڼی:

په پورتني ستاینوم ترڼگ کې (بې لاسه) ستاینوم (لستوڼی) ستایلی دی.

لکه بې لاسه لستوڼی څه کړای نه شي
هسې بې فضله بنده دی مضطرب
(۱۰: ۳۵)

- مزرۍ سترگې:

په پورتني ستاینوم ترڼگ کې (مزرۍ) ستاینوم (سترگې) ستایلی دی. همداسې (خوب

حرامول) ګړنه او مانا يې (نارامول) ده.

ستا مـزرو سترګـو حـرام کا

د حــــرم په هوسـو خـواب

(۱۰: ۴۱)

- د سترګو قصاب:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (سـترګې/ سـترګو) تولنـومی (قصـاب) تولنـوم دی، بيا تشبيهي ترڼګ دی (سـترګې) مشـبه او(قصـاب) مشـبه بـه، ګـډ صـفت يـې (ځور، رنځ، ظلم او ستم) دی. په لاندې بيت کې يې وګورئ :

کشتني غوندې ولاړ يم

ستا د سترګو په قصاب

(۱۰: ۴۱)

- د بڼو سيخ:

پورتنی ترڼګ تولي دی (د) تولوييکی (باڼه) تولنومی (سـيخ) تولنـوم دی، بيـا تشـبيهي ترڼګ دی (باڼه) مشبه او(سيخ) مشبه به،ګډ صـفت يـې (جوړښـت او اغېـز) دی. پـه لاندې بيت کې يې وګورئ :

زر په زر به مې کا غوښې

د بڼــو په سيـخ کبـــاب

(۱۰: ۴۱)

- د حسن درياب:

په پورتني شعري تول ترڼګ کې (د) تولوييکی (حسن) تولنومی (درياب) تولنـوم دی. په لاندې بيت کې يې وګورئ :

ستا د حسن و درياب ته

غير حسـن دی حـبـاب

(۱۰: ۴۲)

- د هجر عذاب:

پورتني ترږگ تولي دی (د) تولنومی (هجر) تولنومی (عذاب) تولنوم دی، بیا تشبیهي ترږگ دی (هجر) مشبه او (عذاب) مشبه به ، گډ صفت یې (کړاو او رنځ) دی. په لاندې بیت کې یې وگورئ :

خدای دې نه سپځي حمیده !
ښوک د هجر په عذاب
(۱۰: ۴۲)

- د صبر خانمان:

په پورتني تول ترږگ کې (د) تولوییکی (صبر) تولنومی (خانمان) تولنوم دی، بیا تشبیهي ترږگ دی (صبر) مشبه او (خانمان) مشبه به ، گډ صفت یې (جوړښت) دی. په لاندې بیت کې یې وگورئ :

ځکه ما څخه آرام و قرار ورک شه
چې مې اوښو کړه د صبر خانمان ډوب
(۱۰: ۴۲)

- د حیا د بحر دُر:

په پورتني تول ترږگ کې (د) تولوییکی (حیا او بحر) تولنومی او (دُر) تولنوم دی. د (صبرجهازونه) بل تول ترږگ دی (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (جهازونه) تولنوم دی .

د حیا د بحر دُر یې مونده نه شي
که د صبر جهازونه کړم چندان ډوب
(۱۰: ۴۳)

- د اوښو توپان:

په پورتني تول ترږگ کې (د) تولوییکی (اوښې) تولنومی او (توپان) تولنوم دی.

هېڅ پروا نه کا په غـم د هـــر ژړانـــده
که جهان کړم زه د اوښو په توپان ډوب
(۱۰: ۴۳)

- د زړه کبوتر:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (کبوتر) تولنوم دی.

څـه ښـــادي به کبـوتـر زما د زړه کا
چې کښېوتی په لاس باز يې د رقيب
(۱۰: ۴۴)

- داغلی زړه:

په پورتني ستاینوم تړنګ کې (داغلی) ستاینوم دی (زړه) ستایلی دی.

د داغلي زړه له آهه شم څه شان چپ
د چمـــن په ګلـو نه وي بلبـــلان چپ
(۱۰: ۴۵)

- د مراد ډیوه:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی (مراد) تولنومی او (ډیوه) تولنوم دی. همداسې (په اوبو ډیوه بلېدل) تړنګ ګڼه او مانا يې (بختورېده، طالعمني) ده.

پـه اوبـــو بـه دې ډيـوه شـي د مراد بلـــه
که صدف غوندې په صبر کړې دهان چپ
(۱۰: ۴۵)

- د زړه قبله:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (قبله) تولنوم دی. بلخوا، يـو استعاري تړنګ هم دی (زړه) قرينه (قبله) مسـتعارمنه (غوښـتنه او هيلـې) مسـتعارله دی.

خدای قبله زما د زړه که ذات د ښکلیو
که بد ذات په دا باله شم که نیک ذات
(۱۰: ۴٦)

- مړاوې سترګې:

په دې ترنګ کې(مړاوې) ستاینوم (سترګې) ستایلی دی. ددې ترخنګ (سترګې مړاوېدل) ترنګ ګڼنه ده، مانا یې (د سترګو اغېز ښندې، شرمېدل، حیا کول) ده.

بې د یار له مړاوو سترګو چې کج ګوري
ګڼه نه کا رنځوران چاته جواب سخت
(۱۰: ۴۷)

- خونخوارې سترګې:

په پورتني ترنګ کې (خونخوارې) ستاینوم (سترګې) ستایلی دی. د (سترګو خونخوارېدل) ترنګ ګڼنه او مانا یې (د سترګو اغېز ښندې، چاته د کړاو او ځور رسول) ده.

له خونخوارو سترګو څه شفقت غواړې
مقرر چې وي په زړه اهل قصاب سخت
(۱۰: ۴۷)

- د غم سخرې غوټې:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوییکی (غم) تولنومی او(سخرې غوټې) تولنوم دی. د تول ترنګ په منځ کې بل ستاینوم ترنګ (سخرې غوټې) دی(سخرې) ستاینوم او (غوټې) ستایلی دی.

سخرې غوټې مې د غم دې زړه ته پروتې
کشکې خدای که راپیدا ګره کشای دوست
(۱۰: ۴۸)

- شوخ کتل:

په پورتني ترڼګ کې (شوخ) کړول (کتل) کړولی دی. د (په غټو سترګو ړنديدل) ترڼګ ګڼه او مانا يې (په لوی لاس ځان یا خپله ورټیا نفی کول) ده.

يار دې ويار زما د شوخو کتو نه کا

زه په غټو سترګو ړوند يم لکه بوت

(۱۰: ۴۹)

- غوټ کول:

پورتنی ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې (اوريدل، غوږ نيول، غوږ درنول) ده.

ښکلي نه درنـــوي غـــوږ په نورو دُرو

چې په غوږ کاندي حمیده ستا یاقوت

(۱۰: ۴۹)

- د زړه تابنده نمر:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنـومی او (تابنـده نمـر) تولنـوم دی. د تول ترڼګ په منځ کې بل ترڼګ (تابنده نمر) ستاینومیز دی (تابنده) ستاینوم او (نمـر) ستایلی دی.

چې ښـکاره زما د زړه تابنـــده نمـر شـه

د سپوږمۍ له لاسه هلته مشال پرېووت

(۱۰: ۵۰)

- د هلال مات کچکول:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (هلال) تولنومی او (مات کچکول) تولنوم دی. د تول ترڼـګ پـه مـنځ کـې بـل سـتاینوم ترڼـګ (مـات کچکـول) دی (مات)سـتاینوم او(کچکول) ستایلی دی. بلخوا، یـو تشـبیهي ترڼـګ هـم دی (هـلال) مشـبه بـه(مات کچکول) مشبه او (جوړښت) يې ګډ صفت دی. د (روټۍ مورګه) تول ترڼـګ کـې (د) تولوییکی (روټۍ) تولنومی او (مورګه) تولنوم دی.

شـــوم فلک د روتۍ مورگـه هـالـــه ورکـړه
چې له لاسه مات کچکول د هلال پرېووت
(۱۰: ۵۰)

- نمرمخی:

پورتنی تړنگ له دوو توکو (نمر + مخ) څخه رغېدلی، یـو تړلـی سـتاینوم دی. بلخـوا (نمر) مشبه به (مخ) مشبه او(ښکلا) یې گډ صفت دی.

دا مې پرېـوتـــه پېښـه د زړه لـــه داغــه
که د لاس نه د نمرمخي مشال پرېووت
(۱۰: ۵۰)

- د مینې زخم:

په پورتني تول تړنگ کې (د) تولوییکی (مینه) تولنومی او (زخم) تولنوم دی.

د اشنــا د مینې زخـم په عـذاب کـړم
چې ترې نه ووځې خوناب د شکایت
(۱۰: ۵۱)

- د تن کور:

په پورتني تول تړنگ کې (د) تولوییکی (تن) تولنومی او (کور) تولنوم دی. همدارنگـه یو تشبیهي تړنگ هـم دی (تـن) مشـبه (کـور) مشـبه بـه او گـډ صـفت یـې (فزیکـي جوړښت) دی.

د تن کور به مې لړغون وو مینې سوی
کـه مـې نـه راتـلی ژړا پـه حمــایـت
(۱۰: ۵۱)

- سر کوزول:

پورتنی تړنگ یوه گړنه او مانا یې (منل، تسلیمېدل، سرټیټول) ده.

سر زما سرکـوزي نه منـي د تـاج
ګڼه تاج زما و سر ته دی محتاج
(۱۰: ۵۳)

- د عشق طفل:

پـه پـورتني تـول ترنـګ کـې (د) تولوییکی(عشـق) تولنـومی او (طفـل) تولنـوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (عشق) مشبه (طفل) مشبه به او ګډ صفت یې (نا لیوي او غیرعادي کړنې) دی.

که د عشق طفل څه لږه که خوله پټه
اپلاتون څخه کا سم سیده تقریر کج
(۱۰: ۵۴)

- د زلفینو مار:

پـه پـورتني تـول ترنـګ کـې(د) تولـوییکی (زلفـین) تولنـومی او (مـار) تولنـوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (زلفین) مشبه (مار) مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (جوړښت) دی. د (عشق دم) په شعري تول ترنګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنـومی او (دم) تولنوم دی.

یوه ورځ به خـوړ حمید مار د زلفـینـو
اوس په دم د عشق پاړو شه زما روح
(۱۰: ۵۷)

- د مهر لاس:

په پورتني ترنګ کـې (د) تولـوییکی(مهر) تولنـومی او (لاس) تولنـوم دی. بلخـوا، یـو استعاري ترنګ هم دی (مهر) مستعارمنه (لورېینه، مهرباني) مسـتعارله (لاس) قرینـه او (حب یا مینه) وجه جامع ده.

په خدمت به دې جهان د وړاندې درومي
که د مهر لاس کړې وړاندې لکه صـبح
(۱۰: ۵۷)

- سپین ویل:

پورتنی ترنګ ګړنه او مانا یې (رښتیا ویل، پاک ویل، غوښ ګړېدل) ده.

سپين ویل کوه د حق عبدالحمیده !
کــه په ژبه اوېزاندې، لـکــه صبح
(۱۰: ۵۷)

- د حیات اوبه:

په پورتني شعري تول ترنګ کې (د) تولوییکی(حیات) تولنومی او (اوبه) تولنوم دی.

خو اوبه دې د حیات نوشلې نه دي
دا دي واړه نـادانــي ده وهــې جـخ
(۱۰: ۵۸)

- د نفس سپی:

په پورتني ترنګ کـې (د) تولـوییکی (نفـس) تولنـومی او (سـپی) تولنـوم دی. بلخـوا، تشبیهي ترنګ هم دی (نفس) مشبه (سپی) مشبه به او (بې پروایـي، نـاروا کـول) یـې ګډه ستاینه ده.

که منډې درسره خوله په هر طـعـام کې
د نفس سپی دې مردار خوره نه که چخ
(۱۰: ۵۸)

- د ګېډې شاه:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوییکی (ګېډه) تولنومی او (شاه) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی. (ګېډه) مشبه (شاه) مشبه به او ګـډ صـفت یـې (جوړښـت) دی.

هسې پرېوتې نسکور د ګېډې شاه تـه
چې دې نه دی یاد په زړه چاه د زنخ
(۱۰: ۵۸)

- د اوښو اوبه:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوييکی (اوښې) تولنومی او (اوبه) تولنوم دی. همدارنګه تشبيهي ترنګ هم دی (اوښې) مشبه (اوبه) مشبه به او (جوړښت) يې ګډ وصف دی.

تل د اوښو په اوبو کې لره تر مخ
په دغو اوبو کې ليد شي د دلبر مخ
(۱۰: ۵۸)

- د مخ ډيوه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (مخ) تولنومی او(ډيوه) تولنوم دی. بلخوا، يو تشبيهي ترنګ هم دی (مخ) مشبه (ډيوه) مشبه به او ګډ صفت يې (جوړښت او ښکلا) ده.

- مخ سورکول :

دا يوه ګړنه او مانا يې (وهل ډبول) ده.

د يوسف د مخ ډيوه شوه هاله بله
چې يې سور کړ په څپېړو برادر مخ
(۱۰: ۵۸)

- د نمر مخ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (نمر) تولنومی او (مخ) تولنوم دی. همدارنګه يو تشبيهي ترنګ هم دی (نمر) مشبه به (مخ) مشبه او ګډ صفت يې (ځلا، ښکلا، نور) دی.

له مېوې د سيوري ونه شا په شا وې
څو يې نه کا مخامخ سره د نمر مخ
(۱۰: ۵۹)

- د ځيګر مخ:

په پورتني شعري تول ترنګ کې (د) تولوييکی (ځيګر) تولنومی او (مخ) تولنوم دی.

و هر چاته به سرخ رویه لکه ګل شې
کـه په وینو سره وینځې د ځیګر مـخ
(۱۰: ۵۹)

- د صبر کوثر:

په پورتني تول ترږګ کې (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (کـوثر) تولنـوم دی. بلخـوا، یو تشبیهي ترږګ هم دی (صبر) مشبه (کوثر) مشبه به او ګډ صفت یـې (ګرانبـت او ارزښت) دی.

سیاه رويي به دې د طمعې لاړه نه شي
څـو پرېنـوينـځي د صبر په کـوثـر مخ
(۱۰: ۵۹)

- د محنت تناکې:

په پورتني تول ترږګ کې (د) تولوییکی (محنت) تولنومی او (تناکې) تولنوم دی.

چې تناکې د محنت لـري په لاس کې
هغـه نه ګـوري په ځله د ګـوهـر مخ
(۱۰: ۵۹)

- شوخي سترګې:

په پورتني شعري ستاینوم ترږګ کې (شـوخ) سـتاینوم (سـترګې) سـتایلی دی. دارنګـه (کوز کتل / ګورل) ګړنه او مانا یې (شرم، حیا او حجب) ده.

شوخې سترګې نرګس کوز ګوري له شرمه
چې د باغ په لـوري واړوي چشمان شـوخ
(۱۰: ۶۰)

- د مخ آیینه:

په پورتني تول ترږګ کې (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (آیینه) تولنوم دی. همدارنګـه یو تشبیهي ترږګ هم دی (مخ) مشبه (آیینه) مشبه به او (رونوالی، سـپینوالی، ښـکلا) یې ګډ صفت دی.

آيينــه يــې د مــخ هسـې پــر حيــا ده
چې نفس يې د نسيم لګي په ځان شوخ
(۱۰: ٦۰)

- د نسيم وربمه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (نسيم) تولنومی او (وربمه) تولنوم دی.

چـې وربمه يې د نسيـم په رخســار داغ شي
د بوسې په وقت ور وړای نه شم لبان شوخ
(۱۰: ٦۰)

- د تورو زلفو کمند:

پورتنی ترنګ تولي دی (د) تولوييکی او (تورې زلفې) تولنومی (کمند) تولنوم دی. بـل ستاينوم ترنګ (تورې زلفې) دی (تورې) ستاينوم او (زلفې) سـتايلی دی. همدارنګـه، يو تشبيهي ترنګ هم دی (تورې زلفې) مشبه (کمند) مشبه به (جوړښت او اغېـز) يـې ګډ صفت دی.

چې ور واچوي کمند د تورو زلفو
د بازار په ګډېده کا آهـوان شوخ
(۱۰: ٦۰)

- ورځ اوښتل:

پورتنی ترنګ ګړنه او مانا يې (بدبختي، بدمرغېدل ، بدمرغي) ده.

مــــه اړوه مــخ دلــبــره، اوړي زمــا ورځ
مخ کړه چې مې شپه د درد و غم شي رڼا ورځ
(۱۰: ٦۱)

- د زانې کټوری / له زاڼو کټوری غوښتل:

پورتنی ترنګ ګړنه او مانا يې (ناشونتوب ، نه پـوره کېـدونکې هيلـه) ده. دا ګړنـه يـوه انګېرنه هم ده.

عهد يې د زاڼې کټورى دى مونده نه شي
تش په تـوره خلق غورځـوي په رڼا ورځ
(۱۰: ٦۱)

- د اشنايۍ پت:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوييکى (اشنايي) تولنومى او (پت) تولنوم دى.

چې ساتلى نه شي پت د اشنايۍ
آشنـايـي ده د دنيـا د اشنا هېڅ
(۱۰: ٦۲)

- د زړه کور:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولـوييکى (زړه) تولنـومى او (کـور) تولنـوم دى. بلخـوا تشبيهي ترڼګ هم دى (زړه) مشبه (کور) مشبه به او ګډه ستاينه يـې (جوړښـت) دى. د (اوښو سېلاب) په شعري تول ترڼګ کې (د) تولوييکى (اوښو) تولنومى او (سېلاب) تولنوم دى. همدارنګه، ياد ترڼګ تشبيهي هم دى (اوښې) مشبه (سېلاب) مشبه بـه او (جوړښت) يې ګډه ستاينه دى.

د سکون د متاع ځاى مې پکې نه شي
د زړه کور مې کړ سيلاب د اوښو ړنګ
(۱۰: ٦٦)

- د وصال چشمه:

په پورتني تول ترڼـګ کـې (د) تولـوييکى (وصـال) تولنـومى او (چشـمه) تولنـوم دى. (سينه سول) ګړنه او مانا يې (سوځېدل، خورول، کړول) ده. بل ترڼګ (د فراق سـينه) ده. په دې تول ترڼګ کې (د) تولوييکى (فراق) تولنومى او (سينه) تولنوم دى.

لا به کله د وصال په چشمه پېښ شم
چـې سينـه د فراق سوې کړم په ټنډ
(۱۰: ٦٦)

- د تور خط لیکه:

په پورتني تول ترنګ کې(تور خط) ستاینوم ترنګ دی (تور) ستاینوم (خط) ستایلی دی. همدارنګه (د) تولوییکی (تورخط) تولنومی (لیکه) تولنوم دی. د (سترګو توروسپین ګډېدل) ترنګ ګڼه او مانا یې (وارخطا کېدل، هک پک کېدل) ده.

د تور خط لیکه یې ګډه په سپین مخ شوه
تور و سپین زما د سترګو شو په دا ګډ
(۱۰: ٦٧)

- د وصل خیال:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی(وصل) تولنومی او (خیال) تولنوم دی.

بېلتانه د وصل خیال را څخه خور کړ
په رمه باندې لېوه شه د موسی ګډ
(۱۰: ٦٧)

- د ښکلیو پټکې:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (ښکلیو) تولنومی او (پټکې) تولنوم دی.

لویاوه یې پټکو لره د ښکلیو
چې ساته عبدالحمید شه په ځار ځار
(۱۰: ٦٩)

- د زړه وصل:

په پورتني شعري تول ترنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (وصل) تولنوم دی. د دې ترځنګ (زړه وصلېدل) ګڼه او مانا یې (اړیکی، تړون) ده.

هیڅ مې نه شي تسلي د زړه په وصل
د طوبی تر سیوري ناست یم مخ په نمر
(۱۰: ۷۰)

- د محبت آه فریاد:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (محبت) تولنومی او (آه فریاد) تولنوم دی.

آه فریـــاد د محـبت مشکلـه کـاره
چې مې نه په سر، سرکېږي نه په زر
(۱۰: ۷۰)

- د دوو سترګو کعبه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (دوو سترګو) تولنـومی او (کعبـه) تولنـوم دی. همدارنګه (دوو) شمېرنوم او (سترګو) شمیرلی دی (دوو سترګو) شمېرنوم ترنګ بولو.

هغه مخ چې مې کعبه وه د دوو سترګو
مسلط کـړ بانـدې خط مواس د کـفر
(۱۰: ۷۲)

- د ترکو خیال:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (ترکو) تولنومی او (خیال) تولنوم دی.

په هغو سترګو کې خیال د ترکو بند شي
انتـظـــار چـــې یې حلـقې کا د زنځـیر
(۱۰: ۷۵)

- د زلفو ځېل:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (زلفو) تولنومی او(ځېل) تولنوم دی.همدارنګـه تشبیهي ترنګ هم دی (زلفې) مشبه (ځېل) مشـبه بـه او (جوړښـت، اوږدوالـی) ګـډ صفت دی.

ډېر یې ویار زما د کار کاوه ښه وشوه
چې زاهـد په ځېل د زلفـو شه اسیر
(۱۰: ۷۵)

- د اُمید زړي:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (اُمید) تولنـومی او (زړی) تولنـوم دی. بلخـوا

یو تشبیهي ترڼګ هم دی (اُمید) مشبه (زړي) مشبه به او ګډ صفت يې (هیله) ده.

د (غم غوبلونه) په تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (غم) تولنومی او (غوبلونه) تولنوم دی. همدارنګه، یو تشبیهي ترڼګ هم دی (غم) مشبه (غوبلونه) مشبه به او ګډ صفت يې (ځپل، کړول) دی.

خه نشونما به کا زما د امید زړي
ګرځي مې په سر د غم غوبلونه ګېر و پېر
(۱۰: ۷٦)

- د جدایۍ فوجونه:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (جدایي) تولنومی او (فوجونه) تولنوم دی.

وخاته فوجونه مې په سر د جدایۍ
لور په لور هم دا غږ و آواز دی چې پېر پېر
(۱۰: ۷٦)

- د مینې سر درد:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (مینه) تولنومی او (سر درد) تولنوم دی.

ورک به مې د مینې د سر درد نه شي حمیده !
ولې چې ترلی سره وايي سرو سېر
(۱۰: ۷٦)

- د تورو زلفو کفرستان:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (تورې زلفې) تولنومی او (کفرستان) تولنوم دی. د تول ترڼګ په منځ کې (تورو زلفو) ستاینوم ترڼګ دی (تورې) ستاینوم او(زلفې) ستایلی دی. بلخوا، یو تشبیهي ترڼګ هم دی (تورې زلفې) مشبه (کفرستان) مشبه به او ګډ صفت يې (تاریکي، توروالی) دی.

چې مې ولید کفرستان د تورو زلفو
عقل و هوښ مې له خاطره د اسلام لاړ
(۱۰: ۷۹)

- ځان خوړل :

پورتنی ترنګ ګړنه او مانا يې (ځورېدل، مړه کېدل، وژل کېدل، سرخوړل) ده.

چې د ظلـم په کمـر دې تل میـدان خـوړ
دماغي ځان ته غره خود به دې ځان خوړ

(۱۰: ۸۰)

- د اوښو سېل:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (اوښې) تولنومی او (سېل) تولنوم دی. بلخـوا، يو تشبیهي ترنګ هم دی (اوښې) مشبه (سېل) مشبه به او (حرکـت اوجوړښـت) يـې ګډه ستاینه ده.

څـه بـه نـه نړېـده بـرج د سـتا د عـمـر
د مظلوم د اوښو سېل يې هر زمان خوړ

(۱۰: ۸۰)

- د پند پومبه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (پنـد) تولنـومی او (پومبـه) تولنـوم دی. د (پـه غوږ کې پومبه اېښوول) ترنګ ګړنه او مانا يې (نه اورېدل، غوږ کڼول) ده.

د رقیب د پند پومبه دې پکې ایښې
چـې دې نه لګي په غـوږ زمـا آواز

(۱۰: ۸۲)

- د زړه سوز:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (سـوز) تولنـوم دی. دارنګـه (زړه سوځول) ګړنه او مانا يې (همدردي، په غم کې ګډون) ده.

شه مې سوز لکه د شمعې دل افروز
په ژړا مې ځکه نه ځـي د زړه سوز

(۱۰: ۸۴)

- د خاطر زخم:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (خاطر) تولنومی او (زخم) تولنوم دی.

چې رفو کا دحمید د خاطـــر زخم
مونده نه شي یو دلدار هسې دلدوز
(۱۰: ۸۵)

- نوخېز حسن:

دا ستاینوم ترڼګ دی. (نوخېز) ستاینوم (حسن) ستایلی دی.

چې نظر په نوخېز حسن کړم د ښکلیو
راته هېښ شـــي د بهـار د ګلـــو خېز
(۱۰: ۸۵)

- وچ ګوګل:

په پورتني ستاینوم ترڼګ کې (وچ) ستاینوم (ګوګل) سـتایلی دی. بـل سـتاینوم ترڼـګ (اوښلنې سترګې) دی چې(اوښلنې) ستاینوم (سترګې) ستایلی دی.

وچ ګوګل زېړه ګونه اوښلنې سترګې
په دعـوه کې د عشـق بویه دستاوېز
(۱۰: ۸٦)

- شکرلب:

پورتنی ستاینوم ترڼګ دوه توکي لري (شکر) او (لب). دواړه سره یوځای شـوي او یـو ستاینوم یې رغولی دی. همدارنګه یو تشبیهي ترڼګ هـم دی (شـکر) مشـبه بـه (لـب) مشبه او(خوږوالی) ګډ صفت دی.

که یې لب د شکرلب زبېښلي نه دي
د حمید زبـــان به څه شي شکر رېز
(۱۰: ۸٦)

- د ترکو ښکنځل:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (ترکو) تولنومی او (ښکنځل) تولنوم دی.

په دعــا به ځنــې خه لره غوښته چـا
که ښکنځل د ترکو نه وای شهـد آمېز

(۸٦:۱۰)

- په لمن لاس لګول:

پورتنی ترڼګ ګړنه او مانا یې (مرسته او ملاتړغوښتل) ده.

زر به ورسـې په داد لــه کمینــۍ
لګولی دی حمید ستا په لمن لاس

(۸۹:۱۰)

- د بوسې ګل و ثمر:

په پورتنې تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (بوسه) تولنـومی او (ګـل و ثمـر) تولنـوم دی. بلخوا یو تشبیهي ترڼګ هم دی (بوسه) مشبه (ګل و ثمر) مشـبه بـه او (خـوږوالی او نرمښت) یې ګډ صفت دی.

چې ښـې ګل و ثمـر د بـوسـې مــاتـــه
هغه مخ کاندي بهار د خط و خال پس

(۹۱:۱۰)

- د آزار غشی:

په پورتنې تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (آزار) تولنومی او (غشی) تولنوم دی. بلخـوا، یو استعاري ترڼګ هم دی (آزار) قرینه (غشی) مستعارمنه او (نظر، کتـل) مسـتعارله دی.

د مظلــوم د آزار غشـی رسـا لګـي
هېڅ ګوزار یې خطا نه درومي عبس

(۹۲:۱۰)

- له آزاره بازار موندل:

پورتنی ترڼګ ګړنه او مانا یې (د چا په بدمرغۍ کې خپله نیکمرغي لیدل) ده.

هر سړی چې له آزاره بازار غواړي
د دارو په طمع زهـر خوري ناکس
(۱۰: ۹۲)

- د عشق فوج:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (فوج) تولنوم دی.

چې پرې راشي د عشق فوج تېول سیاه پوش
لا عــلاج له زړه ګوښــه شي عقل و هوش
(۱۰: ۹۵)

- د عشق دیګ ځوښېدل / دیګ ځوښېدل:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنـومی او (دیـګ ځوښـېدل) تولنـوم دی. همداسې ګړنه هم ده او مانا یې (لوړتیـا او اوج، لـوړه کچـه) ده. د (شرم و ننـګ سرپوښ) په تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (شرم و ننګ) تولنومی او (سرپوښ) تولنـوم دی. بلخوا یو تشبیهي ترڼـګ هـم دی (شرم و ننـګ) مشـبه (سرپـوښ) مشـبه بـه او (پټول) یې ګډ صفت دی.

راغـی دیګ زما د عشـق هسې پـه ځوښ
چې پرې نه ودري د شرم و ننګ سرپوښ
(۱۰: ۹٦)

- خاورې پر سرېدل:

پورتنی ترڼګ ګړنه او مانا یې (بدمرغي، خوار و زارېدل) ده.

لکه زه خاورې په سر خوښ یم په عشق کې
بادشـاهـان به هســې نه وي په افسر خوښ
(۱۰: ۹٦)

- مشکینې زلفې:

دا ترڼګ ستاینومیز دی (مشکینې) ستاینوم (زلفې) ستایلی دی. بلخـوا، تشـبیهي هـم

ده (زلفې) له (مشکو) سره تشبیه شوې دي (زلفې) مشبه (مشک) مشبه به او ګډ وصف یې (تور رنګ او خوشبويي) ده. د دې ترخنګ (خاورې پر سر کېدل / در په در کېدل) هم ګرځې دي چې مانا یې (غم ځپلی، نتلی او ویرجن) ده.

چې مې کېږي په مشکینو زلفو مینه
در په در یم لکه باد، خاورې په سر خونښ
(۱۰: ۹۷)

- د دید وړی مزری :

په پورتني تول ترنګ کې (وړی مزری) ستاینوم ترنګ دی (وړی) ستاینوم (مزری) ستایلی دی. همدا ډول په تول تول ترنګ کې(د) تولوییکی (دید) تولنومی او(وړی مزری) تولنوم دی.

په سبب د عشق دې هم را غرض نه کا
که د دید وړي مزري شي سل په ما پېښ
(۱۰: ۹۸)

- د پېغور داغ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (پېغور) تولنومی او (داغ) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (پېغور) مشبه (داغ)مشبه به، ګډ صفت یې(ځور او بد لګېدل) دی.

هر یو داغ شي د پېغور راپورې نښلی
چې بې یاره مې هر دم د ژوندون وکېښ
(۱۰: ۱۰۰)

- د رخسار لمبه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (رخسار) تولنومی او (لمبه) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (رخسار) مشبه (لمبه) مشبه به او ګډ صفت یې (د وړانګو پورته کېدل، یورنګ اغېز) دی. د (حسن فراش) په تول ترنګ کې (د) تولوییکی (حسن) تولنومی او (فراش) تولنوم دی.

په لمبه یــې د رخســار وســه ایرې شــه
چې یې کېښود په فراش د حسن ګام خط
(۱۰: ۱۰۸)

- د مینې اور:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (مینه) تولنومی او (اور) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (مینه) مشبه (اور) مشــبه بــه او ګــډ صــفت یې(ځــوروول او کړول) دی.

چې په اور د مینې بـل کا بلـه شمع
ماه و مهر کا د ښائښت خجله شمع
(۱۰: ۱۱۲)

- د حیا پښه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (حیا) تولنومی او (پښه) تولنوم دی. همدارنګه (د حیا پښه ښویېدل) یوه ګړنه او مانا یې (شرمېدل، پزه پرېکېدل) ده.

د هغـو د حیـا پښــه مـدام ښــویېږي
چې یې واخېسته د نس په هوی طمع
(۱۰: ۱۱۳)

- ګلبدن:

په پورتني ستاینوم ترنګ کــې (ګــل) ســتاینوم او (بــدن) ســتایلی دی. بلخــوا تشــبیهي ترنګ دی (ګل) مشبه به (بدن) مشبه او ګډ صفت یې(نرمـوالی او پوسـتوالی) دی. د (سترګې پرانیستل) ترنګ ګړنه او مانا یې (سترګې غړول، ځېرېدل، پوهېدل) ده.

چې په مخ د ګلبدن سترګې پرانیځي
غونچـه نه کا سـم کاته له دې دماغ
(۱۰: ۱۱۵)

- د اوښو جوی:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (اوښو) تولنومی او (جوی) تولنوم دی.

ته په جوی زما داوښو
تازه کېږې لکه باغ
(۱۰: ۱۱۷)

- د فکر توره:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (فکر) تولنومی او (توره) تولنوم دی. همدارنګه تشبیهي هم دی (فکر) مشبه (توره) مشبه به او (تېزوالی) یې ګډ وصف دی. د (توره اچول) ترنګ ګڼه او مانا یې (بربنډول، څرګندول، په زړورتیا عمل کول، ښکاره کول ډاډمن حرکت کول) ده.

اوس د فکر توره واچوه حمیده !
چې دې نشته په پښتو کې څوک حریف
(۱۰: ۱۲۱)

- د عاشقۍ رنځ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (عاشقۍ) تولنومی او (رنځ) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (عاشقۍ) مشبه (رنځ) مشبه به او ګډ صفت یې (ځورول او کړول) دي.

نه دی هسې زیانمن رنځ د عاشقۍ
چې رنځور یې و علاج ته لري شوق
(۱۰: ۱۲۵)

- برندې سترګې:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (برندې) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

څه کرم لري د ښکلیو برندې سترګې
چې د قتل و احتیاج ته لري شوق
(۱۰: ۱۲۵)

- د غمونو امواج :

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (غمونو) تولنومی او (امواج) تولنوم دی. د

(خاطر سړېدل) ترڼګ ګڼه او مانا يې (ډاډمنېدل) ده.

د هوس له کنارې مې خاطر سوړ شه
د غـمـونـو و امـواج تـه لـري شـوق

(۱۰: ۱۲۵)

- ګل اندام:

په پورتني ترڼګ کې (ګل) ستاينوم او (انـدام) ستايلی دی. بلخـوا تشـبيهي ترڼـګ دی (ګل) مشبه به (اندام) مشبه او ګډه ستاينه يې (نرموالی او پوستوالی) دی.

هر چې خوب لکه غونچه کا په طلب د ګل اندامو
په پېغـور د هـغـو سترګې شبنم وکاږي په نـــوک

(۱۰: ۱۲۷)

- خونخوار لب:

په پورتني ستاينوم ترڼګ کې (خونخوار) ستاينوم او (لب) ستايلی دی.

دغه خپل خونـخوار لـب پوښتـه دلبـره
چې تغيير دی د حميد په څه کبل رنګ

(۱۰: ۱۳۲)

- تش په توره:

پورتنی ترڼګ يوه ګڼه او مانا يې (هسـې، بـې ځايـه، خوشـې، بـې ګټـې، هـېڅ) ده.
(دوکان ګرمول) بله ګڼه او مانا يې (ځان مشهورول، خپل مينه وال زياتول) ده.

د وفـا مـال و متـاع پـکـې هېـڅ نشته
تش په توره ګرموي ښکلي دکان خپل

(۱۰: ۱۳۳)

- د يقين سترګې:

په پورتني تـول ترڼـګ کـې (د) تولـويیکی (يقـين) تولنـومی او(سـترګې) تولنـوم دی.
د(سترګې سپړدل) ترڼګ ګڼه او مانا يې (کتل او ليدل) ده.

چې يې عشق د يقين سترګې سپړدې نه دي
ځکه پرېوست ارستو په ګمان عقل
(۱۰: ۱۳۸)

- د خوښۍ جام:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (خوښۍ) تولنومی (جام) تولنوم دی. د (درد وغم ايرې) په ترنګ کې (د) تولوييکی (درد و غم) تولنومی(ايرې) تولنوم دی.

سيده جام د خوښۍ نه وي په خوله ايښی
بيا ايرې د درد و غم کا پکې ګول
(۱۰: ۱۳۹)

- د عمر دېوال:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (عمر) تولنومی (دېوال) تولنوم دی. همدارنګه يو تشبيهي ترنګ هم دی (عمر) مشبه (دېوال) مشبه به او ګډ صفت يې (اوړدوالی او جوړښت) دی. د (عمر دېوال پرېوتل) ترنګ ګرنه او مانا يې (مړل او د ژوند پای) ده.

زر په زر به دې دېوال د عمر پرېوځي
چې يې زدويي د مظلوم د اوښو زېم
(۱۰: ۴۶)

- د غرور پومبه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (غرور) تولنومی (پومبه) تولنوم دی. د (پند نغمه) تول ترنګ کې (د) تولوييکی (پند) تولنومی (نغمه) تولنوم دی.

د غرور پومبه راکاږه له غوږونو
واوره ښه د پند نغمه په زېر و بم
(۱۰: ۱۴۷)

- د غفلت زخم:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (غفلت) تولنومی (زخم) تولنوم دی. بيا يو استعاري ترنګ دی (غفلت) قرينه (زخم) مستعارمنه او (سرتيټی) مستعارله دی.

د غفلت زخم به زر د ستا ناسور شي
چې پرې نه ږدې د نېکخواه د پند مرهم
(۱۰: ۱۴۹)

- د زلفو زنځیر:

په پورتني تول ترېنګ کې (د) تولوییکی (زلفو) تولنومی (زنځیر) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترېنګ هم دی (زلفې) مشبه (زنځیر) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی. د (عشق صحرا) په ترېنګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی (صحرا) تولنوم دی.

ځغلوي راپسې یار زنځیر د زلفو
چې د عشق په صحرا سر لکه مجنون شم
(۱۰: ۱۴۹)

- اسمان په غونډو ویشتل:

پورتنی ترېنګ ګرنه او مانا یې (بې ګټې کار کول، ناشونی کار کول) ده.

په تدبیر سره تقدیر کله تغییر خوري
چې دا فکر کړم اسمان په غونډو ولم
(۱۰: ۱۵۰)

- د داغ شمع:

په پورتني شعري تول ترېنګ کې (د) تولوییکی (داغ) تولنومی (شمع) تولنوم دی.

د غم شپه مې بې ډیوې خدای هډو مه کړه
هر ماښام شمع د داغ زه بلوم
(۱۰: ۱۵۱)

- د قد همسا:

په پورتني تول ترېنګ کې (د) تولوییکی (قد) تولنومی(همسا) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترېنګ هم دی (قد)مشبه (همسا)مشبه به او ګډ صفت یې(جګوالی،اوږدوالی اوجوړښت) دی. د (زړه لاس) په تول ترېنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی(لاس)

تولنوم دی. همدارنګه یو استعاري ترږنګ هم دی (زړه) قرینه (لاس) مستعارمنه او(هیلې) مستعارله دی. د (زلفو کوڅه) په تول ترږنګ کې (د) تولوییکی (زلفو) تولنومی(کوڅه) تولنوم دی.

رالـه را همسا د قـد د زړه په لاس کـې
په کوڅه کې ستا د زلفو شب کور پروت یم
(۱۰: ۱۵٦)

- د پېغور باد:

په پورتني تول ترږنګ کې (د) تولوییکی (پېغور) تولنومی (باد) تولنوم دی.

زه کـه کک وای د پېغـور بـاد بـه وم وړی
ولې خاورې یم په در ستـا په زور پروت یم
(۱۰: ۱۵۷)

- بې آبه سترګې:

په پورتني ستاینوم ترږنګ (بې آبه) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

نه شپه و ورځ ژاړم، نه له خوبه شوم بې خوبه
آب بې آبو سترګـو زما ورک کا کـه حق وایـم
(۱۰: ۱۵۸)

- د سترګو باز:

په پورتني تول ترږنګ کې (د) تولوییکی(سترګې) تولنومی(باز) تولنوم دی. همدارنګه یو استعاري ترږنګ هم دی (سترګې) قرینه (باز) مستعارمنه او (پام او التفات) مستعارله دی. د (ځیر طُعمه) په تول ترږنګ کې (د) تولوییکی (ځیګر) تولنومی(طعمه) تولنوم دی. بلخوا د (ځیګر طعمه نیول یا ورکول) ګرنه او مانا یې (هر ډول قرباني ورکول، ستره قرباني ورکول) ده.

التفـات یې راتـه باز د سترګو نـه کا
که هـر خو ورته طـُعمه د ځیګر نیسم
(۱۰: ۱٦۱)

- غونچه خوله:

په پورتني ستاینوم تړنګ کې (غونچه) ستاینوم او (خوله) ستایلی دی.

غونـچـه خوله چې په خبرو راتـه واکا
د نرګس په څېر کوږ ګورم شرمسار یم
(۱۰: ۱٦۲)

- د زړه دُر:

په پورتني تول تړنـګ کـې (د) تولـوییکی (زړه) تولنـومی (دُر) تولنـوم دی. همدارنګـه استعاري تړنـګ هـم دی (زړه) قرینـه (دُر) مسـتعارمنه او (خـبرې، هیلـې ، رازونـه) مستعارله دی.

دم قــدم یې پـــه پېـیـل د زړه د درو
د راستۍ په ستن وهلی نری تار شم
(۱۰: ۱٦۲)

- د تورو زلفو کفار:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی (تورې زلفې) تولنـومی او (کفـار) تولنـوم دی. (تورې زلفې) بل ستاینوم تړنګ دی (تور) ستاینوم او (زلفې) سـتایلی دی. همدارنګـه یو تشبیهي تړنګ هـم دی (تـورې زلفـې) مشـبه (کفـار) مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (تاریکي یا توروالی) دی.

ومې باسـي د سکـون له دینـدارۍ
چې بندي د تورو زلفو په کفار شم
(۱۰: ۱٦۳)

- د عشــق جهــل:

په پـورتني تـول تړنـګ کـې (د) تولـوییکی (عشـق) تولنـومی او (جهـل) تولنـوم دی. همدارنګه (عشق) له (جهالت) سره تشـبیه شـوی (عشـق) مشـبه (جهـل) مشـبه بـه (ناپوهي او سرغړونه) یې ګډ صفت دی.

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه !

وا به نـه وړم زه حمید هســـې پښتون یم

(۱۰: ۱۶۴)

- کاږه کاته:

په پورتني کړول ترنګ کې (کاږه) کـړول او (کاتـه) کړولـی دی. د دې ترخنـګ (پـه خنګ کاږه کتل) ګړنه او مانا یې (خپه کېدل، مخالفت) ده.

بیا پـه خنـګ کـاږه کاته کانـدي نګـار نن

خدای دې خیر و کا په باب زما افـګار نن

(۱۰: ۱۶۶)

- د اوښو باران:

په پورتني تـول ترنـګ کـې (د) تولـوییکی (اوښـې) تولنـومی او (بـاران) تولنـوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (اوښې) مشبه (باران) مشبه به او ګـډ صـفت یـې (جوړښـت) دی. د (پـرزړه غبـار پرېوتـل) ترنـګ ګړنـه او مانـا یـې (شـکمن کېـدل، ناخوښي) ده.

چې پیوست مې اوروي باران د اوښو

پرېوتلی یـې په زړه دی څه غبـار نـن

(۱۰: ۱۶۶)

- د مخ مجمر:

پـه پـورتني تـول ترنـګ کـې (د) تولـوییکی(مخ) تولنـومی او (مجمـر) تولنـوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (مخ) مشـبه (مجمر)مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (وړانګې پورته کېدل) دی. د (کسې له چشمانو لوېدل) ترنګ ګړنه او مانا یې (سترګې ډېرې دردېدل) ده.

په مجمر مې یې د مخ لوېږي له شوقه

د سپند په طــور کســې لـه چشمانـو

(۱۰: ۱۷۲)

- د لبانو څراغ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (لبان) تولنومی او (څراغ) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (لبان) مشبه (څراغ) مشبه به او ګډ صفت یې (سوروالی یا سرې ورانګې) دی. د (وره خوله) په ستاینوم ترنګ کې (وره) ستاینوم او (خوله) ستایلی دی.

ګفتګوی به یې بیا نه مونده وره خوله
که څـراغ ورته بـل نه وي د لبانـو
(۱۰: ۱۷۲)

- د مژګانو تېره غشي:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (مژګان) تولنومی او (تېره غشي) تولنوم دی. (تېره غشي) ستاینوم ترنګ دی (تېره) ستاینوم او (غشي) ستایلی دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (مژګان) مشبه (تېره غشي) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت او اغېز) دي.

بختر پوښ د صبر و زهد ځني تښتي
چې په ګورت کا تېره غشي د مژګانو
(۱۰: ۱۷۲)

- میګونې شونډې:

پورتنی ترنګ تشبیهي دی (مې) مشبه بـه (ګونـه) د تشـبېه تـوری (شـونډې) مشـبه (سوروالی او نشه کول) یې ګډ صفت دی.

چې حمید کا په میګونـو شونډو مینه
زر به کښېني په حلقو کې د مستانـو
(۱۰: ۱۷۳)

- د عشق اور:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (اور) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (عشق) مشبه (اور) مشبه به او ګډ صفت یې

(گرمښت او کیفي یورنگي) دی.

هم په دا چې د عشق اور پرې زر ولگي
دا زمــا صـورت گېډی کـرې د وښــــو
(۱۰: ۱۷۳)

- د عشق توبری:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی(عشق) تولنومی او (تـوبری) تولنـوم دی. دلتـه (زړگی کېدل) گړنه او مانا یې (ډېر گرانښت، له ځانه نه بېلېدونی څیز) ده.

د آشنا د عشق توبری زما زړگی شـه
کړلی نه شم ځکه حکم په وکښــــو
(۱۰: ۱۷۳)

- د غم کاڼي اوریدل:

پـورتنی ترږنـگ یـوه گړنـه او مانـا یـې (ډېـرې اندېښــنې، ډېـرې پرېښــانۍ ، ډېرځـور، ډېرغمونه) ده.

هی توبه د عشق له ملکـه له ورشو
چې پرې اوري د غم کاڼي په رشـو
(۱۰: ۱۷۴)

- د وروځو خیال:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (وروځو) تولنومی او (خیال) تولنوم دی.

دا دیار د وروځو خیال دی نه پوهېږم
کـه لــړم مـې ټکـوهـي زړه پـه لشـو
(۱۰: ۱۷۴)

- د مخ ښهر:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (ښهر) تولنوم دی.

چې یې تل پکې کول سترګو خونونه
د مـخ ښهر یې د بړیرې مواس ونیـو
(۱۰: ۱۷۷)

- د عشق تندر:

دا ترڼگ تولي دی (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (تندر) تولنوم دی. همدارنګه یـو تشبیهي ترڼگ هم دی (عشق) مشبه (تندر) مشبه به او ګډ صفت یې (هیبت) دی.

چې نـازل شه د عشق تندر له اسمانه
ما حمیـد د غم لایق ورته لاس ونیو
(۱۰: ۱۷۷)

- د سترګو غمزې:

په دې تول ترڼگ کې (د) تولوییکی (سترګې) تولنومی او (غمزې) تولنوم دی.

معلومیږي ستـا د سترګـو له غمـزو
چې یې مرګ د تېره تېغ دی راپېرزو
(۱۰: ۱۷۷)

- د صبر سوبه:

په پورتني تول ترڼگ کې (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (سوبه) تولنوم دی.

که ترسره مې کا خدای د صبر سوبه
د ناکـــس لـه آشنـــایۍ توبـه توبـه
(۱۰: ۱۸۸)

- د نظر غشی:

پـه پـورتني تـول ترڼـګ کـې (د) تولـوییکی (نظـر) تولنـومی او (غشـی) تولنـوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترڼگ هم دی (نظر) مشبه (غشی) مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (توغېدل او لوکېدل) دی.

زړه مې ووت د ديدن د جنګ په هپه
ولي غشي د نظر په ښي په چپه
(۱۰: ۱۸۹)

- د غم مغل:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوييکی (غم) تولنومی او (مغل) تولنوم دی. همدارنګه يو تشبيهي ترنګ هم دی (غم) مشبه به (مغل) مشبه او ګډ صفت يې (ناکراري، ظلم) دی.

په تمام جهان قراره قراري ده
په حميد د غم مغل راوخاته
(۱۰: ۱۹۰)

- د مهر سپر:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (مهر) تولنومی او (سپر) تولنوم دی.

که له غمه يې زړګی دوه نيمه وچوي
نه نيسي د مهر سپر و ذوالفقار ته
(۱۰: ۱۹۱)

- د تورو زلفو تېغ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (توري زلفې) تولنومی او (تېغ) تولنوم دی. بلخوا د (توري زلفې)ستاينوم ترنګ کې(تورې)ستاينوم او (زلفې) ستايلی دی. همدارنګه يو تشبيهي ترنګ هم دی (توري زلفې) مشبه (تېغ) مشبه به او ګډ صفت يې(جوړښت) دی.

چې په تېغ د تورو زلفو ومرم ښايي
که مې بوی د مښکو دورمي له تربته
(۱۰: ۱۹۳)

- د خط غبار:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوييکی (خط) تولنومی او (غبار) تولنوم دی. بلخوا،

یو استعاري ترږنگ هم دی (خط)قرینه(غبار)مستعارمنه(ویښته، توروالی او اغېز) یې مستعارله دی.

د مراد حسن ځنې ځي پا په رکاب شه
چې یې پاڅېده د خط غبار له مخه
(۱۰: ۲۰۱)

- د صبر غر:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (غر) تولنوم دی. همدارنگه یو تشبیهي ترږنگ هم دی (صبر) مشبه (غر) مشبه به او ګډ صفت یې (لویوالی) دی.

په یوه نظر مې غر کاندي د صبر
هسې ویلې لکه موم د نار له مخه
(۱۰: ۲۰۱)

- د عشق ښهر:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (ښهر) تولنوم دی.

که مې مېشت په زړه کې ښهر د عشق نه وي
همېشه مې له خولې خیژي شور په څه
(۱۰: ۲۰۴)

- د مژگانو کاږه غشي:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (مژگان) تولنومی او (کاږه غشي) تولنوم دی. بلخوا (کاږه غشي) ستاینوم ترږنگ کې (کاږه) ستاینوم او (غشي) ستایلی دی.همدارنگه یو تشبیهي ترږنگ هم دی (مژگان) مشبه (کاږه غشي) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت او اغېز) دی.

چې په گورت کا کاږه غشي د مژگانو
که یې کج گوزاروي لگي سیده
(۱۰: ۲۰۸)

- د عقل ستن:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (عقل) تولنومی او (ستن) تولنوم دی.

اوس په څېرې گرېوان مینه کړم په ښکلیو
چې د عــقــل سـتـن مـې ووته لـه کنـډه
(۱۰: ۲۱۰)

- د عشق تبه:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (تبه) تولنوم دی.

چې پوښتنه مې د حال نه کړې دلبره
لا مې تبـه د عشــق نه گـڼـې شپېـره
(۱۰: ۲۱۳)

- د خاطر کشور:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (خاطر) تولنومی او (کشور) تولنوم دی.

هر ساعت پکې ناحق خونونه کیږي
د خاطر کشور مې ډک شه له فتوره
(۱۰: ۲۱۴)

- د زړه کډه:

په پورتني تول ترږنگ کې(د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (کډه) تولنـوم دی. همدارنگـه یو استعاري ترږنگ هم دی (زړه) قرینه (کډه) مسـتعارمنه او (مینـه، بـاور) مسـتعارله دی.

کـه ښیـې راتـه هـزار لــوړې ژورې
د زړه کډې به له تا، نه کړم ستنې زه
(۱۰: ۲۲۰)

- د فکر شخوند:

په پورتني تول ترږنگ کې (د) تولوییکی (فکر) تولنومی او (شخوند) تولنوم دی. بلخوا، یو اسـتعاري ترږنـگ هـم دی (فکـر) قرینـه (شـخوند) مسـتعارمنه او (پلټنـه، لټونـه)

مستعارله دی.

څو دې ښه د فکر شخوند زده کړی نه دی
چې شـــه مـه کـــوه خبـره لـــواړه لـــواړه
(۱۰: ۲۲۱)

- د شونډو کوثر:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (شونډې) تولنومی او (کوثر) تولنوم دی. بلخـوا، یـو استعاري ترڼـګ هـم دی (شـونډې) قرینـه (کـوثر) مسـتعارمنه او (خـواږه، لـذت) مستعارله او (خوږوالی) یې جامع وجه ده.

چې کوثر مې ستـا دشونډو نصیب نه شي
خدای مې هېڅکله دا هسې شهید مه کړه
(۱۰: ۲۲۱)

- د عشق نجار:

په پـورتني تـول ترڼـګ کـې (د) تولـوییکی (عشـق) تولـنومی او (نجـار) تولـنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترڼګ هم دی (عشق) مشبه (نجار) مشبه بـه او ګـډ صـفت یـې (ځورول، رنځول) دی.

چې د عشـق نجـار اره کړم سر ترپایه
تن مې پروت تختې تختې شه دړه دړه
(۱۰: ۲۲۲)

- د زړه دړه:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (دړه) تولنوم دی.

ښه چې بېله مې په غم شوه د زړه دړه
ګـوندې شـي پکـې لمـن د وصـل اړه
(۱۰: ۲۲۳)

- د هجر غر:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (هجر) تولنومی او (غر) تولنوم دی. بلخوا، یـو

تشبیهي ترنګ هم دی (هجر) مشبه (غر) مشبه به او ګډ صفت يې (دروندوالی) دی.

سپک سپک غر د يار د هجر هسې دروند دی
لکـــه اینبـــی پـه سینـه وي غــر د پـاســه
(۱۰: ۲۲۴)

- مغرور حسن:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (مغرور) ستاینوم او (حسن) ستایلی دی.

په یو هســې مغـرور حسن مبتلا شوم
چې لري تر نمر سپوږمۍ نظر د پاسه
(۱۰: ۲۲۵)

- د غم اور:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (غم) تولنومی او (اور) تولنـوم دی. همدارنګـه یو تشبیهي ترنګ هم دی (غم) مشبه (اور) مشبه به او ګډ صفت يې (تاو، سوز) دی.

څوک و کومې خواته وتبنتي ځان خلاص کا
په تمــامــې دنیــا پــورې د غــم اور شــه
(۱۰: ۲۲۵)

- د بلا په لکۍ سپرېدل:

دا ترنګ یوه ګرنه او مانا يې (پر کړاو کې کېوتل، تر ګوانښ لاندې راتلل) ده.

څه حاکم څه رعیت څه غیر وزیر
جهان واړه د بلا په لکۍ سپور شه
(۱۰: ۲٦)

- د حکم جام:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (حکم) تولنومی او (جـام) تولنـوم دی. بلخـوا، یو استعاري ترنګ هم دی (حکم) قرینه (جام) مستعارمنه او (واګې، واک) مستعارله دی.

څه به شور نه وي د هند په میخانه کې
چې اورنګ څخه د حکم جام نسکور شه
(۱۰: ۲۲٦)

- د وصل ښهر:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (وصل) تولنومی او (ښهر) تولنوم دی. د (هجران فوج) په ترنګ کې (د) تولوییکی (هجران) تولنومی او (فوج) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (هجران) مشبه (فوج) مشبه به او ګډ صفت یې (ځواک او زور) دی.

تار په تار یې کړ زما د وصل ښهر
د هجران فوج له کومه لوري سور شه
(۱۰: ۲۲۸)

- د طمعې زنځیر:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی(طمعې) تولنومی او (زنځیر) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (طمعه) مشبه (زنځیر) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی.

نور قیدونه واړه سهل دي حمیده !
خو په غاړه دې د طمعې زنځیر مه شه
(۱۰: ۲۳۱)

- پرېشانه زلفې:

په پورتني ستاینوم ترنګ دی (پرېشانه) ستاینوم او (زلفې) ستایلی دی. د (زړه جمع کېدل یا زړه راټولېدل) ترنګ ګرنه او مانا یې (بې غمه کېدل، له اندېښنو خلاصېدل) ده.

هېڅ مې زړه پرېشانو زلفو جمع نه کا
دغه دین په هندو بار کې نه وو نه شه
(۱۰: ۲۳۱)

- د ګومان لینده:

دا ترنګ تـولي دی (د) تولوییکی(ګومـان) تولنـومی او (لینـده) تولنـوم دی. د (بـاور غشی)په شعري تول ترنګ کې (د) تولوییکی (باور) تولنومی او (غشی) تولنوم دی.

که هر څو کړي د ګومان لینده بر کنبه
د باور غشــی به لک نه کـړي له نښـه
(۱۰: ۲۳۴)

- د مرګ مزری:

په پوړتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (مرګ) تولنومی او (مزری) تولنوم دی.

چې هر څــو د مرګ مزری ورته ښووه شي
څـه بـه نـه شـي د حمیـد غـزالـه خوښـه
(۱۰: ۲۳۴)

- تنکۍ خوله:

په پوړتني ستاینوم ترنګ کې (تنکۍ) ستاینوم او (خوله) ستایلی دی. د (زړه تنګېـدل) ترنګ ګڼـه او مانا یې (خپه کېدل، پریشانه کېدل) ده.

چې یې ستا د تنکۍ خولې تصور واخېست
په دا فکـر کـې غونچـه شوه په زړه تنـګـه
(۱۰: ۲۴۰)

- د عشق بې دمه مار:

په پوړتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (بې دمه مـار) تولنـوم دی. بلخوا (بې دمه مار) ستاینوم ترنګ دی چې (بې دمه) ستاینوم او (مـار) سـتایلی دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (عشق) مشبه (بې دمه مار) مشبه به او ګډ صفت یې (نا درملنه او لاعلاجي) ده.

چې چیچلی دې د عشق بې دمه مار یم
خـود به دم راخـځـه وکـاږي تـر دمـه
(۱۰: ۲۴۷)

- د مخ ګل:

دا ترڅنګ تولي دی (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (ګل) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترڅنګ هم دی (مخ) مشبه(ګل) مشبه به او ګډ صفت یې (ښکلا) ده. د (زړه شګوفه) په تول ترڅنګ کې(د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (شګوفه) تولنوم دی. همدارنګه داهم یو تشبیهي ترڅنګ دی (زړه) مشبه (شګوفه) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی.

چې یې ګل د ستا د مخ په ګریوان کښېښو
شګوفه د زړه په وینو کې غرقاب شوه
(۱۰: ۲۵۷)

- د کامل عشق زلزله:

په پورتني تول ترڅنګ کې (د) تولوییکی (کامل عشق) تولنومی او (زلزله) تولنوم دی. د (کامل عشق) په ستاینوم ترڅنګ کې (کامل) ستاینوم او (عشق) ستایلی دی.

زلزله د کامل عشق راباندې نه وه
چې د تن مانۍ مې زیر و زبر نه شوه
(۱۰: ۲۰۹)

- د قیامت سېلاب:

دا ترڅنګ تولي دی (د) تولوییکی (قیامت) تولنومی او(سېلاب) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترڅنګ هم دی (قیامت) مشبه (سېلاب) مشبه به او ګډ صفت یې (ویجاړول) دی.

خدای دې زر که د قیامت په سېلاب ورانې
دا لـه ګنـده د نفـاق ډکې بستۍ
(۱۰: ۲٦۴)

- منګرۍ زلفې:

دا ترڅنګ ستاینومیز دی (منګرۍ) ستاینوم او (زلفې) ستایلی دی.

د آشنـا د منګـــرو زلفــو په خیـــال کې
موی په موی راباندې زهر د منګور ځي
(۱۰: ۲٦۴)

- وچې سترګې:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (وچې) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

چې د وچو سترګو شرم مې پرې پټ شي
راپرې ایښــی د ستا غم هومره نو نه دی
(۱۰: ۲٦۹)

- د پرهېز مزری:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (پرهېز) تولنومی او (مزری) تولنوم دی. بلخوا، یو استعاري ترنـګ هـم دی (پرهېـز) قرینـه (مـزری) مسـتعارمنه او (ځـواک، قـوت، سختوالی) مستعارله دی.

چې په خپل دم و افسون رایشي ښکلي
د پـرهـــېز پـه مــزرو واچـــوي وري
(۱۰: ۲۷۳)

- زري فکر:

پورتنی شعري ترنګ ستاینومیز دی (زري) ستاینوم او (فکر) ستایلی دی.

څه عجب ساده رنګین وایې حمیده !
دا زري فـکـر دې مــه شـه نظــرې
(۱۰: ۲۷۴)

- د شګو پړی:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (شګو) تولنومی او (پړی) تولنـوم دی. همدارنګـه (د شګو پړی غړل) ګرنه او مانا یې (هېڅ ، بې مانا، بې ګټې او ناشـونی کـار کـول) ده. د (لېچي غړل) ترنګ هم ګرنه او مانا یې (اراده، هوډ، چمتو کېدل) ده.

چې له تا زهد و پرهېز ته لېچې غړي
هغه غړي په مانا د شګو پړي
(۱۰: ۲۷۵)

- د غمونو غوټې:

پورته ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (غمونه) تولنومی او (غوټې) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (غمونه) مشبه (غوټې) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی. د (د زړه غوټې سپړل) ترنګ ګڼنه او مانا یې (د زړه رازونه / خبرې ښکاره کول). همداسې (شونډې سپړل) هم ګڼنه او مانا یې (خندېدل) ده.

په خندا کې څخو شونډې راوسپړه
که مې غوټې د غمونو له زړه سپړې
(۱۰: ۲۸۱)

- د عشق مزری:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (مزری) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (عشق) مشبه (مزری) مشبه به او ګډ صفت یې (زور و ځواک) دی. د (خېړې څټل) ترنګ ګڼنه او مانا یې (چاته ګواښېدل، څوک ننګول) ده.

عاقبت د عشق مزری راباندې ترپ کا
چې څټلې یې مدام راته خېړې
(۱۰: ۲۸۱)

- د تورو زلفو پړی:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (تورې زلفې) تولنومی او (پړی) تولنوم دی. د (تورو زلفو) ترنګ ستاینومیز دی (تورې) ستاینوم او(زلفې)ستایلی دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (تورې زلفې) مشبه (پړی) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی.

بیا به خوک ته په زندۍ اوېزان وژنې
چې دې ځوړند کړه د تورو زلفو پړې
(۱۰: ۲۸۳)

- د آهونو لوګۍ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (آهونو) تولنومی او (لوګی) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (آهونه) مشبه (لوګی) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دي.

بیا له کومه رخه اور په حمید بل شه
چې له خولې یې د آهونو لوګی کېږي
(۱۰: ۲۸٦)

- غوني زېږېدل:

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (وېرېدل، وارخطا، بوږنېدل) ده.

چې حمید د یار له غم کا سوې کریږه
د پېریانو غوني زېږ دېوان په دوک شي
(۱۰: ۲۸۹)

- د خط شپه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (خط) تولنومی او (شپه) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (خط) مشبه (شپه) مشبه به او ګډ صفت یې (رنګ، توروالی) دی.

هسې شپه د یار د خط راباندې راغله
چې هرګز به تر قیامته سحر نه شي
(۱۰: ۲۹۱)

- د هجر تشنک:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (هجر) تولنومی او (تشنک) تولنوم دی. د (وصال کوثر) په تول ترنګ کې (د) تولوییکی (وصال) تولنومی او (کوثر) تولنوم دی.

بلخوا یو استعاري ترړنګ هم دی (وصال) قرینه (کوثر) مستعارمنه (خواږه) مستعارله او (خوږوالی) وجه جامع ده.

چې وهلی وي تشنک د یار د هجر
تسلي یې د وصـال په کوثـر نه شي
(۱۰: ۲۱۹)

- د زړه مجلس:

په پورتني تول ترړنګ کې (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (مجلس) تولنـوم دی. د (زړه مجلس تودېدل) ترړنګ ګړنه او مانا یې (خوښېدل) ده.

څـو اغـاز پـکـې د مینـې سـرود نه شـي
په نور څه به دا مجلس د زړه تود نه شي
(۱۰: ۲۹۲)

- د عاشقۍ تور دېو :

دا ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی (عاشقي) تولنومی او (تور دېـو) تولنـوم دی. د (تـور دېو) ترړنګ ستاینومیز دی (تور) ستاینوم او(دېو) ستایلی دی. همدارنګـه یـو تشـبیهي ترړنګ هم دی (عاشقي) مشبه (تور دېو) مشبه بـه او ګډ صـفت یـې (وحشـتناک او ناوړه جوړښت) دی.

چې یــې ووهـي تور دېــو د عـاشقــۍ
هېڅ محنت یې د جهان په افسـون نه شي
(۱۰: ۲۹۲)

- خوږې شونډې:

په پورتني ستاینوم ترړنګ کې (خـوږې) سـتاینوم او (شـونډې) سـتایلی دی. د (تـریخ صبر) ستاینوم ترړنګ کې (تریخ) ستاینوم او (صبر) ستایلی دی.

چې تر خولې یې شي خواږه د خوږو شونډو
هـغـه زړه بـه ترخـه صبـر ته سـتـون نه شـي
(۱۰: ۲۹۳)

- نامحرم ساقي:

په پورتنی ستاینوم ترنګ کې (نامحرم) ستاینوم او (ساقي) ستایلی دی. د (ځان وینې ښنبل) ترنګ ګڼه او مانا یې (کړاو او درد زغمل) ده.

چې پرده شي نامحرم ساقي ته سپړده
د شرابو په ځای وینې د ځان ښنبي
(۱۰: ۲۹۴)

- د وصال خواږه:

په پورتني تول ترنګ کې(د)تولوییکی (وصال) تولنومی او(خواږه) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (وصال) مشبه (خواږه) مشبه به او ګډ صفت یې (کیفیت، جوړښت) دی.

د وصال خواږه مې زهر شو کهیږم
پکې غم د جدایي زر زر راغی
(۱۰: ۲۹۵)

- د هجر اسیا:

دا ترنګ تولي دی(د) تولوییکی (هجر) تولنومی او(اسیا) تولنوم دی. بلخوا، یو تشبیهي ترنګ هم دی (هجر) مشبه (اسیا) مشبه به او ګډ صفت یې (ځور، رنځ او ټکېدل) دی.

څه بلا سخته دانه یم نه پوهیږم
چې کسیا نه شوم د هجر په اسیا کې
(۱۰: ۲۹۶)

- د مخ خراغ:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (خراغ) تولنوم دی. همدارنګه یو تشبیهي ترنګ هم دی (مخ) مشبه (خراغ) مشبه به او ګډ صفت یې (ښکلا او وړانګې خپرول) دی.

چې خـراغ د یار د مـخ راته بل نه وي
زه به ګور کې ګڼم خپسر په دا کور کې
(۱۰: ۲۹۹)

- شین زړه:

دا ترڼـګ سـتاینومیز دی(شـین) سـتاینوم او (زړه) سـتایلی دی. بلخـوا د (زړه شـین کېدل) بیا ګړنه او مانا یې(له کړاوه سترېدل، ځورېدل،کړېدل او رنځېدل) ده.

دا زمـا له غمـه شین زړه پکـې خـیال د یار د شونډو
هسې رنګ زېب و زینت کا لکه مې په شنه پیاله کې
(۱۰: ۳۰۱)

- شهلا سترګې:

په دې ستاینوم ترڼګ کې (شهلا) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

هسـې رنګ سحـر و جادو کا په نظر د شهلا سترګـو
نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې
(۱۰: ۳۰۱)

- ګلګون مخ:

دا ترڼګ تشبیهي دی (ګل) مشبه به (ګون) د تشبیه توری (مـخ) مشـبه او ګـډ صـفت یې (ښکلا او جوړښت) دی.

خـال و خط په ګلګـون مخ کې د دلبرو دا مثال کا
لکه پروت وي غخېدلی خرقه پوش په دو شاله کې
(۱۰: ۳۰۲)

- خونړۍ سترګې:

پورتنی ترڼګ ستاینومیز دی (خونړۍ) ستاینوم او (سترګې) ستایلی دی.

چې د ستا له خونړو سترګو آشنا شي
تل به ویـر وي د هـغـو په خېلخانې
(۱۰: ۳۰٦)

- د زلفو شب قدر:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (زلفې) تولنومی او (شب قدر) تولنوم دی. بلخوا تشبیهي ترڼګ هم دی (زلفې) مشبه (شب قدر) مشبه به او ګډ صفت یې (ښکلا، خوشبويي او رنګ) دی.

چې روزي یې شه شب قدر ستا د زلفو
کوم شبګیر و، روزي شوی د شانې

(۱۰: ۳۰۶)

- د اوښو دُر ګوهر:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (اوښو) تولنومی او (دُر ګوهر) تولنوم دی. بلخوا تشبیهي ترڼګ هم دی (اوښې) مشبه (دُر او ګوهر) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت او ارزښت) دی.

له لمنو دُر ګوهر د اوښو بویه
تیاری د یار د خیال د مهمانۍ

(۱۰: ۳۰۷)

- یاقوتي شونډې:

پورتنی ترڼګ ستاینومیز دی (یاقوتي) ستاینوم او (شونډې) ستایلی دی.

تویول به ورته چا ګوهر د اوښو
که موندی یاقوتي شونډې شوی ارزانې

(۱۰: ۳۰۸)

- د سترګو تېغ:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (سترګې) تولنومی او (تېغ) تولنوم دی. بلخوا یو استعاري ترڼګ هم دی (سترګې) قرینه (تېغ) مستعارمنه (نظر) مستعارله او وجه جامع یې (یورنګ تګ یا حرکت) دی. د (سترګو تېغ تېزول) ترڼګ ګرڼه او مانا یې (ځان ښکلی کول / سینګارل، پسولل) ده.

د رنجو په باڼ دې تېغ د سترګو تېز کړ
بیا به توی کړې نه پوهېږم د چا وینې
(۱۰: ۳۱۰)

- د شبنم اوښې:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی(شبنم) تولنومی او (اوښې) تولنوم دی. بلخوا یو استعاري ترنګ هم دی (شبنم) قرینه (اوښې) مستعارمنه (څاڅکي) مستعارله او وجهه جامع یې (جوړښت) دی. د (وینې ژړل) ترنګ ګڼنه او مانا یې (درد ګالل / زغمل) ده.

د دې دوو ورځو شپو په آشنایۍ کې
د شبنم په اوښو ژاړي لاله وینې
(۱۰: ۳۱۱)

- مشکین خال:

په پورتني ستاینوم ترنګ کې (مشکین) ستاینوم او (خال) ستایلی دی.

مشکین خال دې په سرو شونډو هسې زېب کا
لکه مست په میخانه کې ملنګ کښېني
(۱۰: ۳۱۱)

- د عشق بلا:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (عشق) تولنومی او (بلا) تولنوم دی. بلخوا تشبیهي ترنګ هم دی(عشق) مشبه (بلا) مشبه به او ګډ صفت یې (مصیبت او ناورین) دی.

هسې زه د عشق بلا په خیر ګڼمه
لکه خوک په خوله کې خوښ د پلنګ کښېني
(۱۰: ۳۱۲)

- د مخ اور:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (اور) تولنوم دی. بلخوا تشبیهي ترنګ هم دی (مخ) مشبه (اور) مشبه به او ګډ صفت یې (وړانګې) دی.

که دې خـط په خـاکستر ځـپلی نه وی
د مخ اور به دې تر اوسه و ملک سوی
(۱۰: ۳۱۵)

- مه جبین:

پورتنی تړنګ تشبیهي دی (مه) مشبه به (جبـین) مشـبه او ګډ صـفت یـې (ښـکلا او جوړښت) دی.

د دیـــوې د بلـــو حاجـت نشتـــه
په هغه کور کې چې ناست مه جبین ته یې
(۱۰: ۳۱۹)

- د زړه غوټه:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی(زړه)تولنومی او (غوټه) تولنـوم دی. بلخـوا یـو استعاري تړنګ هم دی (زړه) قرینه (غوټه) مستعارمنه (خبره) مستعارله دی. د (د زړه غوټه پرانتل) تړنګ ګڼه او مانا یې (راز برسېرول ، د زړه خبره ویل) ده.

دم و خود به وي ولاړ د غم له ګوټه
پرانتی به چـاته نه شـي د زړه غوټه
(۱۰: ۳۲۳)

- مخ په تبۍ تور:

دا تړنګ یوه ګړنه او مانا یې (شرمېدل، ګرمېدل) ده. د (په خره سورول) تړنګ هم یـوه ګړنه اومانا یې (شرمېدل ، ګرمېدل) ده.

چې مي یار په سفر تللی زه په کـور یم
ګویا مخ په تبۍ تور او په خره سور یم
(۱۰: ۳۲٦)

- د هجران بلا:

په پورتني تول تړنګ کې (د) تولوییکی (هجران) تولنومی او (بـلا) تولنـوم دی. بلخـوا یو تشبیهي تړنګ هم دی (هجران) مشبه (بلا) مشبه به او ګډ صـفت یـې (مصـیبت او

رنځ) دي.

ربــه راولې آشنــا په سفــر تللی
ډېر مې وکړ د هجران په بلا صبر
(۱۰: ۳۲۷)

- د هجران ناسور:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولـوییکی (هجـران) تولنـومی او (ناسـور) تولنـوم دی. بلخوا یو استعاري ترنګ هم دی (هجران) قرینه (ناسـور) مسـتعارمنه (کـړاو و رنـځ) مستعارله دی. د (سترګې وا کول) ترنګ ګړنه او مانا یې (غړول، څېرېدل) ده.

د اشنــا په ښکلي مخ مې سترګې واکړې
په ناسور مې د هجران، پورې دوا کړې
(۱۰: ۳۳۰)

- د حسن توره:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (حسن) تولنومی او (توره) تولنوم دی. تشبیهي ترنګ هم دی (حسن) مشبه (توره) مشبه به او ګډ صفت یې (اغېز) دي.

لسم کال هسې اوبه ورکړې مشهورې
چې یې وواهه چورنګ د حسن تورې
(۱۰: ۳۴۴)

- د مخ شمع:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (شمع) تولنـوم دی. تشـبیهي ترنګ هم دی (مخ) مشبه (شمع) مشبه به او ګډ صفت یې (ښکلا او وړانګې) دی.

چــې یې بله د مخ شمع روانه شي
هغه دم ورباندې جمع پروانه شي
(۱۰: ۳۵۱)

- خام خُمار:

پورتنی ترڼګ ستاینومیز دی (خام) ستاینوم او (خُمار) ستایلی دی.

خـام خُمار يې د تقـوی له سره کـوز شو
شور و شر چې يې کاوه پوه په رموز شو
(۱۰: ۳۵۸)

- د غرور آس:

په پورتني تول ترڼګ کې (د) تولوییکی (غرور) تولنـومی او (آس) تولنـوم دی. بلخـوا تشبیهي ترڼګ هم دی (غرور) مشبه (آس) مشـبه بـه او ګـډ صـفت يـې (خپـز وهـل، هوايي تګ) دی.

هـی توبــه د احتساب له وچو پوچو
د غرور آس مي واهه په کوچو پوچو
(۱۰: ۳۵۹)

- د قهر سرې لمبې:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (قهر) تولنـومی او(سرې لمبـې) تولنـوم دی. د (سرې لمبې) ترڼګ سـتاینومیز دی (سرې) سـتاینوم او (لمبـې) سـتایلی دی. بلخـوا، تشـبیهي ترڼګ هم دی (قهر) مشبه (سرې لمبې) مشبه به او ګډ صفت يې (ګرمښت، تـودوالی) دی. د (تورو سترګو سره کول) ترڼګ ګڼه او مانا يې (غوسه ښکاره کول / ښوول) ده.

که یو ځل درباندې تورې سترګې سرې که
سـرې لمبــې به دې د قــهـر مرې ایرې که
(۱۰: ۳۶۲)

- د قهر زهر:

دا ترڼـګ تـولي دی (د) تولـوییکی (قهـر) تولنـومی او (زهـر) تولنـوم دی. بلخـوا یـو تشبیهي ترڼګ هم دی (قهر) مشبه (زهر) مشبه به او ګډ صفت يې (بدي، تریخـوالی) دی. د (پر زړه زهر اوښتل) ترڼګ هم ګڼه او مانا يې (ډېره غوسه) ده.

چې یې واوښته په زړه د قهر زهر
په دا شور یې کړ خبر حاکم د ښهر
(۱۰: ۳۶۳)

- د زړه زخم:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (زخم) تولنوم دی.

د زړه زخم یې تر خولې سرایت وکړ
د سکوت پـهـې یې دا کـفـایت وکړ
(۱۰: ۳۶۹)

- د سپوږمۍ شمع:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (سپوږمۍ) تولنومی او (شمع) تولنوم دی. بلخوا یو تشبیهي ترنګ هم دی (سپوږمۍ) مشبه به(شمع) مشبه او ګډ صفت یې (رڼا او روښنایي) ده.

بله شپه چې ځای په ځای د سپوږمۍ شمعې
بلې کړې وې و ځـان تـه هـرې جمـعې
(۱۰: ۳۷۲)

- د حسن نور:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (حسن) تولنومی او (نور) تولنوم دی.

هسې شان یې جلوه ګر د حسن نور شو
چې ښکاره په قصر بام طیور د طُور شـو
(۱۰: ۳۷۴)

- د زړه پروانه:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی(زړه) تولنومی او (پروانه) تولنوم دی. بلخوا یو استعاري ترنګ هم دی (زړه) قرینه (پروانه) مستعارمنه (حرکت) مستعارله دی.

پروانه مې شو د زړه د پر نه پاتې
ستا د مخ په ډیوه سوې کانې ماتې
(۱۰: ۳۷۵)

- د محبت لمبه:

دا ترِنګ تولي دی (د) تولوییکی (محبت) تولنومی او (لمبه) تولنوم دی. تشبیهي ترِنګ هم دی (محبت) مشبه (لمبه) مشبه به او ګډ صفت یې (رنځول، سوځول) دی.

په لمبه د محبت موتې ایرې
کېوتلې د غمونو په ګیرې
(۱۰: ۳۷۸)

- د کږو وروځو لینده:

دا ترِنګ تولي دی (د) تولوییکی (کږې وروځې) تولنومی او (لینده) تولنوم دی. د (کږې وروځې) ترِنګ ستاینومیز دی (کږې) ستاینوم او (وروځې) ستایلی دی. بلخوا یو تشبیهي ترِنګ هم دی(کږې وروځې) مشبه (لینده) مشبه به او ګډ صفت یې(کوږوالی اوجوړښت) دی.

د کږو وروځو لینده په لاس بر کښه
کاږه غشي د مژګانو سم په نښه
(۱۰: ۳۸۰)

- سنګین زړه:

په پورتني ستاینوم ترِنګ کې (سنګین) ستاینوم او (زړه) ستایلی دی.

په هنر د پاکوبۍ چې اغاز ګیت کړ
سنګین زړه لکه دانه کور و چیت کړ
(۱۰: ۳۸۳)

- د عقل لښکر:

دا ترِنګ تولي دی (د) تولوییکی(عقل) تولنومی او (لښکر) تولنوم دی. بلخوا یو استعاري ترِنګ هم دی (عقل) قرینه (لښکر) مستعارمنه (زور و ځواک) مستعارله

دی.

یکـه تاز حسن دې هسې په خېز کړ
چې لښکر مې یې د عقل په ګرېز کړ
(۱۰: ۳۸۶)

- د عقل پښې:

دا ترږګ تولي دی (د) تولوییکی (عقل) تولنومی او (پښـې) تولنـوم دی. د (پـه زارۍ پښې نیول) ترږګ یوه ګرږنه او مانا یې (ډېره زاري او عاجزي) ده.

که هر څو مې په زارۍ د عقل پښې
نیوې، نه ودرېده لاړ د ځان په ښې
(۱۰: ۳۸۶)

- د ادب شیشه:

دا ترږګ ستاینومیز دی (د) تولوییکی (ادب) تولنومی او (شیشه) تولنوم دی.

دایـره د تحمــل شـوه باندې تنګه
د ادب شیشه یې وویشته له سنګه
(۱۰: ۳۸۸)

- تورې طالع:

په پورتني ستاینوم ترږګ کې (تورې) ستاینوم او (طالع) ستایلی دی. بلخوا، اسـتعاري ترږګ هم دی (طالع) قرینه (تور) مستعارمنه (بد او ناوړه) مستعارله دی.

د عاشق تورې طالع، څه خو وبرېښنه
ګوندې وکـه بـانــدې یار د مهر پېښنه
(۱۰: ۳۹۴)

- د ګلو خرمن:

په پورتني تول ترږګ کې (د) تولوییکی (ګلو) تولنومی او (خرمن) تولنوم دی.

په پالنگ لکه د گلو خرمن پرېووت
که لوگری په چمن د گلو پرېووت
(۳۹۴ :۱۰)

- د مخ لمبه:

دا ترڼگ تولي دی (د) تولوییکی (مخ) تولنومی او (لمبه) تولنوم دی. بلخوا، استعاري ترڼگ هم دی (مخ) قرینه (لمبه) مستعارمنه (د ښکلا او ښایست وړانگې) مستعارله دی.

سرومال زما د مخ په لمبه بس
لکه خس هسې سېځي په هر نفس
(۳۹۷ :۱۰)

- د زړه لال:

دا ترڼگ تولي دی (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (لال) تولنوم دی. بلخوا، یو تشبیهي ترڼگ هم دی (زړه) مشبه (لال) مشبه به او گډ وصف یې (سوروالی او جوړښت) دی.

د زړه لال د عشق ساز په ترحم کې
خوله په مهر عذر خواه په تبسم کې
(۳۹۸ :۱۰)

- لاس په غوږ:

دا ترڼگ یوه گړنه او مانا یې (بېزار، توبه ایستونکی) ده.

د اغیارو له مجلسه لاس په غوږ
شماره ځان د یار د مینې په در وږ
(۳۹۸ :۱۰)

- د مهر دم:

په پورتني تول ترکیب کې (د) تولوییکی (مهر) تولنومی او (دم) تولنوم دی.

چې یې دم وربانديې ډېر د مهر پو کړ

بې رحمۍ شلولی زخم یې رفو کړ

(۱۰: ۳۹۸)

- د سترګو اوبه:

دا ترکیب تولي دی (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (لال) تولنوم دی. بلخوا، یو استعاري ترکیب هم دی (سترګې) قرینه (اوبه) مستعارمنه او مستعار (اوښکې) مستعارله او وجه جامع یې (جوړښت) دی.

له خسته یې د یارانو کړم بیان څه

په اوبو د سترګو لاس وینځم عیان څه

(۱۰: ۴۰۰)

- د اُمید لال:

دا ترکیب تولي دی (د) تولوییکی (اُمید) تولنومی او (لال) تولنوم دی.

چې همای باندې د بخت سایه ګستر شو

د امید لال یې روښن په خاکستر شو

(۱۰: ۴۰۲)

- د عقل چمبه:

دا ترکیب تولي دی (د) تولوییکی(عقل) تولنومی او(چمبه) تولنوم دی. بلخوا، یو استعاري ترکیب هم دی (عقل) قرینه (چمبه) مستعارمنه (واک او ځواک) مستعارله دی.

مینه نه اوسي د عقل په چمبه کې

پټ ساته نه شي بخری په پومبه کې

(۱۰: ۴۱۰)

- میګون حسن:

پورتنی ترڼګ تشبیهي دی (می) مشبه به (ګون) د تشبېه توری او(حسن) مشبه دی. همدارنګه (میګون) ستاینوم او (حسن) ستایلی دی، په دې توګه پورتنی ترڼګ ستاینومیز هم دی. د (آتشيـ شوندې) ستاینوم ترڼګ کې (آتشيـ) ستاینوم او (شوندې) ستایلی دی.

چې په مینه د میګون حسن خراب شو
په آتش د آتشي شونډو کباب شو
(۱۰: ۴۱۲)

- د وروځو محراب:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (وروځو) تولنومی او (محراب) تولنوم دی. بلخوا، یو تشبیهي ترڼګ هم دی (وروځې) مشبه (محراب) مشبه به او ګډ صفت یې (جوړښت) دی.

په قیام، که په سجود، که په رکوع دی
و محراب ته یې د وروځو په رجوع دی
(۱۰: ۴۱۳)

- د جمال ډیوه:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (جمال) تولنومی او (ډیوه) تولنوم دی.

په ډیوه یې د جمال په هر پرتو
پروانه په سرومال دی ورته دو
(۱۰: ۴۱۳)

- د کینې، غصې لښکر:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (کینې او غصه) تولنومی او (لښکر) تولنوم دی. بلخوا، یو استعاري ترڼګ هم دی (کینه و غصه) قرینه (لښکر) مستعارمنه (زور و ځواک) مستعارله دی.

د کینې غصې لښکر په هجوم تړل شو
یک منت د نازنین په غولي غـول شـو
(۴۱۴:۱۰)

- ګوته په غاښېدل:

دا ترږګ ګړنه او مانا یې (هېښېدل، حیرانېدل) ده.

د حسرت ګوتې په غاښ کړې هندو ګبر
وې یې ګـورئ دا بې جـرمه جـور جـبر
(۴۱۴:۱۰)

- د سپینو اوښو سیند:

دا ترږګ تـولي دی (د) تولوییکی(سـپینې اوښـې) تولنـومی او (سـیند) تولنـوم دی. د (سپینې اوښې) ستاینوم ترږګ کې (سپینې) سـتاینوم او (اوښـې) سـتایلی دی. د (غـم غبار) تول ترږګ کې (د) تولوییکی (غم) تولنومی او (غبار) تولنوم دی.

ته یې سینـد د سپینو اوښو په مخ باندې
کړه یې زړه د غم غبار تر سیاهۍ لاندې
(۴۱۶:۱۰)

- د فکر دروازه:

دا ترږـګ تـولي دی (د) تولـوییکی(فکر) تولنـومی او (دروازه) تولنـوم دی. د (فکـر دروازه لرې کول) ترږګ ګړنه او مانا یې (پام کول، ځیرېدل، غوږ نیول) ده.

واړه یو ځله آغازې کړې خبرې
هر یـوه کـړه دروازه د فکر لرې
(۴۲۰:۱۰)

- د کرم اوبه:

دا ترږګ تولي دی (د) تولوییکی (کرم) تولنومی او (اوبه) تولنوم دی. بلخوا، تشـبیهي ترږګ هم دی (کرم) مشبه (اوبه) مشبه به او ګډ صفت یې(سـړول، لـه غضـب او اور سره ضدیت) دی. د (غضب اور) تول ترږګ کې (د) تولـوییکی (غضـب) تولنـومی او

(اور) تولنوم دی. بلخوا، تشبیهي ترنګ هم دی (غضب) مشبه (اور) مشبه بـه او ګـډ صفت یې (کړول، رنځول، له کرم، سوړوالي او اوبو سره ضدیت) دی.

د کـرم په اوبـو مړ د غضب اور کړه
بېرته وچار وځه سخ زما په کور کړه
(۱۰: ۴۲۳)

- ګرمې اوښې:

پورتنی ترنګ ستاینومیز دی (ګرمې) ستاینوم او (اوښې) ستایلی دی.

د یتیـم د ګـرمـو اوښو په ګـداز ړو
د بېکس و بېچاره په سوز و ساز ړو
(۱۰: ۴۳۰)

- د ناز پېۍ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (ناز) تولنومی او (پېۍ) تولنوم دی.

وې یې وایه ای د ناز په پیو لویه
بسم الله له بسم الله اغـازي بویه
(۱۰: ۴۴۱)

- د هجر تېغ:

په پورتني تول ترنګ کې (د) تولوییکی (هجر) تولنومی او (تېغ) تولنوم دی. بلخوا، یـو تشبیهي ترنګ هم دی (هجـر) مشـبه (تېغ) مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (ځـورول و رنځول) دی.

که وایـم مه ځه ملالېږي، ملالېږم
که وایم ځه په تېغ د هجر حلالېږم
(۱۰ : ۴۵۴)

- د هجران تاب:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (هجران) تولنومی او (تاب) تولنوم دی.

چې له تابـه د هـجران بې آب و تاب شـو
له خپل زړه سره په دا سوال و جواب شو
(۱۰: ۴۶۴)

- د زنې سېب:

په دې تول ترړنګ کې (د) تولوییکی (زنې) تولنومی او (سیب) تولنـوم دی. بلخـوا، یـو تشبیهي ترړنګ هـم دی (زنـه) مشـبه (سـیب) مشـبه بـه او ګـډ صـفت یـې (ښـکلا او جوړښت) دی.

- وار و پار خطا کېدل:

دا ترړنګ ګړنه او مانا یې (ډارېدل، بوږنېدل) ده.

بـې آسیبه سېب د زنـــې ور عـطاء شـو
په تش بوی سره یې وار و پار خطا شو
(۱۰: ۴۷۳)

- د لبانو لال:

په پورتني تول ترړنګ کې (د) تولوییکی(لبان) تولنومی او (لال) تولنوم دی. بلخـوا، یـو تشبیهي ترړنګ هم دی (لبان) مشبه (لال) مشبه به او ګډ صفت یې (سوروالی) دی.

لا یـې لعـل د لـبانـو درخشـــان وو
د غمزې تېغ یې تېره په هغه شان وو
(۱۰: ۴۷۸)

- د سترګو خار:

دا ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی (سترګې) تولنومی او (خـار) تولنـوم دی. همدارنګـه یوه ګړنه هم ده او مانا یې (خنډ، مانع ، غماز او رقیب) ده.

چې شاهد د هر شاهد د سترګو خار
لکـه ګل په مـخ نګار په زړه افـګار
(۱۰: ۵۰٦)

- د غوړو دُر:

دا ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی(غوړو) تولنومی او (دُر) تولنوم دی.

بېرته وجار اېسته ترکو دُر د غوړو
جوهــریانو ته د دې دُرو په زوړو

(۱۰: ۵۳۹)

- د اُمید کمند:

دا ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی (اُمید) تولنومی او (کمند) تولنوم دی.

چې کمنـد مې ورته ایښـی د اُمید دی
که مې ونیوه ستا فضل غوره صید دی

(۱۰: ۵۵۸)

- لاس اوږدول:

دا ترړنګ ګړنه او مانا يې (مرسته غوښتل، خير غوښتل) ده.

و هر خيز ته چې يې لاس اوږد د آرزو شه
په آرزو يــې د شــرف قبــول پېرزو شــه

(۱۰: ۵۷۳)

- د اُمید بړوسه غونچه:

دا ترړنګ تولي دی (د) تولوییکی (اُمیـد) تولنـومی او (بړوسـه غونچـه) تولنـوم دی. د (بړوسه غونچه) ترړنګ ستاینومیز دی (بړوسه) ستاینوم او (غونچه) ستايلی دی.

د نسیـم په خـبر پېره په باغ زمــا کـړه
د اُمید بړوسه غونچه مې په خندا کړه

(۱۰: ۵۷۷)

- د هجر رنځ:

دا ترړنګ تولي دی (د) تولـوییکی (هجـر) تولنـومی او (رنـځ) تولنـوم دی. بلخـوا، يـو تشبيهي ترړنګ هم دی (هجر) مشبه (رنـځ) مشـبه بـه او ګـډ صـفت يـې (ځـورول او کړول) دی.

خاصيت د شـفـا نه دی څنې تللی
پرې رغېږي رنځ د هجر پرېستلی
(۱۰: ۵۸۳)

- د عشق ژامه:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوييکی (عشق) تولنومی او (ژامه) تولنوم دی.

چې ژوولی د عشق ژامو په خوند نه وي
د هـغـه ژوي به هېچـرې خـونـد نه وي
(۱۰: ۵۸۸)

- د سخن دُر:

په پورتني تول ترنګ کې(د) تولوييکی (سـخن) تولنـومی او (دُر) تولنـوم دی. بلخـوا، تشبيهي ترنګ هم دی (سخن) مشبه (دُر) مشبه به او ګډ صفت يې (ارزښت) دی.

څو د زړه په وينو وللی مخ د سخن شي
سرخـرويي هـومــره دُر د سـخــن شـي
(۱۰: ۵۹۳)

- د زړه د غوړو دُر:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوييکی (زړه، غوړ) تولنومی او (دُر) تولنوم دی.

چې په مياشت شي لکه مياشت يوه دهره
ده د زړه د غــوړو دُر هـــغـــه خــبــره
(۱۰: ۵۹۴)

- د وروځو لينده:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوييکی (وروځو) تولنومی او (لينده) تولنـوم دی. بلخـوا، يـو تشبيهي ترنګ هم دی (وروځې) مشبه (لينده) مشـبه بـه او ګـډ صـفت يې(کـوږوالی اوجوړښت) دی.

چې به ده لینده د وروځو کړه بر کنبه
د حـرم هوسـو به ځان کړه ورته نښه
(۱۰: ٦۰٦)

- د غم غر:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی(غم) تولنومی او (غر) تولنوم دی. بلخوا، يو تشـبيهي ترڼګ هم دی (غم) مشبه (غر) مشبه به او ګډ صفت يې (لويوالی اوجوړښت) دی.

له ژړا يې مخ د صبح په لاس وچ کړ
په وفا يې د غـم غر له زړه رچ پچ کړ
(۱۰: ٦۱۸)

- د اوښو رود:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوییکی (اوښې) تولنومی او (رود) تولنوم دی.

کلـه پاخـه کلـه کښېنـه لارې ګوره
د راتلو په رو يې رود د اوښو ګوره
(۱۰: ٦۲۱)

- د زلفو دام:

دا ترڼګ تـولي دی (د) تولـوییکی (زلفـې) تولنـومی او (دام) تولنـوم دی. بلخـوا، يـو تشبيهي ترڼګ هم دی (زلفې) مشبه (دام) مشبه بـه او ګـډ صـفت يـې (جوړښـت او راګيرول) دی.

په خبره چې دام د زلفو د زېب کېږدي
دوبـاره پکـې دانـه د فـرېب کـېږدي
(۱۰: ٦۲٥)

- اور پورې کول:

دا ترڼګ ګړنه او مانا يې (يو څه ته شا کول، هېرول، ناپامي) ده.

هسې رنګ به سره لمبه قهر و غـضب که
تا به وې چې اور یې پورې په مکتب که
(۱۰: ٦٣٢)

- د غم خاورې:

دا ترنـګ تـولي دی (د) تولـوییکی (غـم) تولنـومی او (خـاورې) تولنـوم دی. د (غـم خاورې خوړل) ګړنه اومانا یې (غمېدل او کړېدل) ده.

سیده سترګې سپړدې نه وې په هوس ما
بیا خـوړلې د غم خـاورې پکـې بس ما
(۱۰: ٦٣۴)

- د غصې غبار:

دا ترنګ تـولي دی (د) تولـوییکی (غصـه) تولنـومی او (غبـار) تولنـوم دی. د (کینـې زنګار) ترنګ تولي دی (د) تولوییکی (کینې) تولنومی او (زنګار) تولنوم دی.

د غصـې غـبار یې لرې له سینې شه
د کینې زنګار یې ورک لـه آیینې شه
(۱۰: ٦٣۵)

- د آزار اور:

دا ترنـګ تـولي دی (د) تولـوییکی (آزار) تولنـومی او (اور) تولنـوم دی. بلخـوا، یـو تشبیهي ترنګ هم دی (ازار) مشبه (اور) مشبه به او ګډ صفت یې (رنځول او کـړول) دی.

د کـرم په اوبـو مړ د ازار اور کا
په عطا سره خطا زما در ګور کا
(۱۰: ٦٣٦)

- مرمر لب:

پورتنی ترنګ سـتاینومیز دی (مرمـر) سـتاینوم او (لـب) سـتایلی دی. همدارنګـه یـو تشبیهي ترنګ هم دی (مرمر) مشبه به (لـب) مشـبه او (جوړښـتي یـورنګي) یـې ګـډ

وصف دی.

خبردار يې په اسرار اهل مکتب شه
له دې بابه ګفتګوی په مرمر لب شه
(۱۰: ٦٣٨)

- د سترګو خس / د سترګو خس کېدل:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوييکی (سترګو) تولنومی او (خس) تولنوم دی. همدارنګه یوه ګړنه هم ده . مانا يې (خنډ او مانع) ده.

که د خسو وي رقیب د سترګو خس وي
پناه وشه چې حاکم وي یا عسس وي
(۱۰: ٦۴۱)

- د زړه سوي لوګی:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوييکی (زړه سوي) تولنومی او(لوګی) تولنوم دی. د (آتشي آه) ترڼګ ستاینومیز دی (آتشي) ستاینوم او (آه) ستایلی دی.

چې به ده آتشي آه کړ له زړه تنګ
د زړه سوي لوګی به شه له هره سنګ
(۱۰: ٦۴٣)

- د وصل شربت:

دا ترڼګ تولي دی (د) تولوييکی (وصل) تولنومی او(شربت) تولنوم دی. همدارنګه یو استعاري ترڼګ هم دی (وصل) قرینه (شربت) مستعارمنه (خوږوالی) مستعارله دی.

چاچې رنځ وي د هجران په ځان پېځلی
عاقبت يې دی د وصل شربت څښلی
(۱۰: ٦۵۹)

- مستې سترګې:

دا ترنګ ستاینومیز دی (مستې) ستاینوم او(سترګې) ستایلی دی.

گوره سره گلونه سره جامونه د لاله وو

مستې سترګې د شېر مستو غزالــه وو

(۱۰: ٦٧١)

- برېسې شونډې:

دا ترنګ ستاینومیز دی (برېسې) ستاینوم او (شونډې) ستایلی دی. د (شبنم سپینې غوټۍ) ترنګ هم تولي دی (د) تولوییکی (شبنم) تولنومی او (سپینې غوټۍ) تولنوم دی. د (سپینې غوټۍ) ترنګ ستاینومیز دی (سپینې) ستاینوم او (غوټۍ) ستایلی دی.

برېسې شونډې د غونچې گل خندان شوې

د شبنــم سپینې غوټۍ پــکـې دنــدان شــوې

(۱۰: ٦٧٧)

- عنبر مویه:

دا ترنګ ستاینومیز دی (عنبر) ستاینوم او (مویه) ستایلی دی. همدارنګه (عنبر) مشبه به(موی) مشبه او ګډ صفت یې (توروالی او خوشبویي) دی، نو یو تشبیهي ترنګ هم دی.

لــه سبزۍ شــوه ښېــوه د عــنبـر مویو

سره لاله یې اننــګي وو د خوب رویو

(۱۰: ٦٧٩)

- د شفق پیالې:

دا ترنګ تولي دی (د) تولوییکی(شفق) تولنومی او (پیالې) تولنوم دی.

چــې تمــامــې یــې پیــالې کــړې د شفق

له مستۍ نه ستوري راغله په حق حق

(۱۰: ٦٨٦)

- د خوښۍ ډیوه:

دا ترړنگ تولي دی (د) تولوییکی (خوښۍ) تولنومی او (ډیوه) تولنـوم دی. د (خوښـۍ ډیوه بلېدل) گرړنه اومانا یې (خوښېدل، خوښي) ده.

د خوښۍ ډیوه یې بله هسې ځای کړه
چې پېره پرې پروانه خوار گدای کړه
(۱۰: ۶۸۷)

- د زړه رڼا:

دا ترړنگ تولي دی (د) تولوییکی (زړه) تولنومی او (رڼا) تولنوم دی.

وې یې ورشم هغه شاه د مجلس شمع
په رڼـــا د زړه وگـــورم د زړه جـمــع
(۱۰: ۶۸۹)

- لاسونه منبل:

دا ترړنگ گرړنه او مانا یې (ارمان کول، پښېماني) ده.

چې به نورو جام په لاس که د عشرت
ده بـه منبـل سـره لاسـونه د حـسرت
(۱۰: ۶۹۰)

- د مینې پیالې:

دا ترړنگ تولي دی (د) تولوییکی (مینه) تولنومی او (پیالې) تولنوم دی.

شـــاه نوشلې پیـــاپی پیالـۍ د مـینې
ښنبي گدا کاسې د ځیگر وینې
(۱۰: ۶۹۰)

- د صبر اور:

دا ترړنگ تولي دی (د) تولوییکی (صبر) تولنومی او (اور) تولنوم دی. بلخوا، تشـبیهي ترړنگ هم دی (صبر) مشبه (اور) مشبه به او گډ صفت یې (رنځول، کړول، سختوالی) دی. د (خاطر جمع کېدل) ترړنگ گرړنه او مانا یې (ډاډمنېدل) ده.

وې يې مه کوه وسواس خاطر کړه جمع

کــړه د صبر پـه اور بـلـه د مـراد شمع

(۱۰: ۷۰۱)

- د روح مرغه:

دا ترېنګ تولي دی (د) تولوییکی (روح)تولنومی او (مرغه) تولنوم دی. بلخوا، تشبیهي ترېنګ هم دی (روح) مشبه (مرغه) مشبه به او ګډ صفت يې (الوتل) دی.

که د زوی لړ و ډېر په خوب لارغه شي

الـوتو ته ساز د پلار د روح مـرغـه شي

(۱۰: ۷۰٦)

- د ګل تاج:

دا ترېنګ تولي دی (د) تولوییکی (ګل) تولنومی او (تاج) تولنوم دی.

د هـر ښــاخ له سره پرېـووت د ګل تاج

تاج و تخت شو د چمن تاخت و تاراج

(۱۰: ۷۳۱)

- د پوزې پرې کېدل:

پورتنی ترېنګ ګړنه او مانا يې(پېغورېدل ، پېغورسازېدل، شرمېدل) ده.

څو يې نه کاندي وفا د پوزې پرې

يار د يار د جفا بار دې کلـه وړی

(۱۰: ۷۳۲)

- د مرګ غشی:

دا ترېنګ تولي دی (د) تولوییکی(مرګ) تولنومی او (غشی) تولنوم دی.

دم پــه دم يـې زيـاتېـدلـه بيمـاري

د مرګ غشی يې خوړلی وو کـاري

(۱۰: ۷۳۵)

- د اُمید نمر:

دا ترږنگ تولي دی (د) تولوييکی (اُميد) تولنومی او (نمر) تولنوم دی.

چې درویش په بادشاهت د شاه خبر شه
د کـرم نـعـره يې هسک د اُميد نمر شـه

(۱۰: ۷۴۵)

- ارمان خوړل:

دا ترږنگ گړنه او مانا يې (ارمان کول، پښېمانېدل، ارمانجنېدل) ده.

تا چې تېز تېزه سمند د خودرايۍ
ما د ستا د پرېوتو هله ارمان خوړ

(۹: ۲)

- اسماني کاڼي پرېوتل:

دا ترږنگ يوه گړنه او مانا يې (ناڅاپي په کړاو پرېوتل، په اندېښنو ککړېدل) ده.

نه مې دم قدم په يوه غم کا مخ په لاري
نه اسماني کاڼی په ما پرېووت څه بلا يم

(۹: ۳)

- انگشت نما کېدل:

دا ترږنگ يوه گړنه او مانا يې (رسواکېدل، موخه کېدل، نوم بدي) ده.

څه له کا د حسن لاف صاحب جمال
خود به شي انگشت نمای لکه هلال

(۹: ۴)

- د اوسپنو چڼې چيچل:

پورتنی ترږنگ يوه گړنه او مانا يې (ستونزې او خواري گالل) ده.

چې د اوسپنې چڼې شـوې پرې چيچلې
خدايزده پخ کړه، هغه غاښ کومو ترشو

(۹: ٦)

- ایمان خوړل:

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا يې (ډېر زیانمنېدل، زیان ګالل، بې ننګه کېدل) ده.

تش ارمان د ستا په مرګ هغو ونه خـوړ
چې د دوی د پاره تا دین و ایمان خوړ

(۹: ۷)

- بلا پسې کول / کېدل:

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا يې (بې ارزښته ګڼل، بې پـروا کېـدل، نهیلـی) ده. همداسـې (لېمه سپینېدل) ترنګ هم ګړنه او مانا يې (ډېره ژړا، ډېر ژړل) ده.

ما په یار پسې لېمه په ژړا سپین کړه
یـار په مـا پسـې کـوي تـــوره بـــلا

(۹: ۱۳)

- پام په ښو کېدل:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه اومانا يې (پاملرنه، لورېینه) ده.

ربـــه ! فـهم کړې د یار راته په ښو
د رقیب په خرخشو مې کړې په ښو

(۹: ۱۷)

- پل کېښوول:

پورتنی ترنګ ګړنه او مانا يې (روانېدل، پیلول، لاس پورې کـول) ده. د دې ترخنـګ (سینه دوه نیمه کېدل) بله ګړنه او مانا يې (غمېدل او ځورېدل) ده.

د قلـم چاودې سینه ګوره دوه نیمه
هله پل ږده د خړه سخن په سیمه

(۹: ۲۱)

- پلو لرې کول:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (مخ ښکاره کول، مخ څرګندول او بربنډول) ده.

که یې ځوک له مخه لرې که پلو
د ښایست مخی یې نشته هېڅ پلو
(۹: ۲۱)

- د پندار په آس سورېدل:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ګومان، اټکل، خیال، ځان غولول) ده.

ماته عین په سور مخ، مختور لیده شي
د پندار په آس سوره له ځانه خوښه
(۹: ۲۱)

- تشې شلومبې شاربل:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (بې ګټې کار کول، بې پایلې کار کول) ده.

هغه تشې شلومبې شاربي سرخوږی کا
چې ښادي غواړي بې غمه بې منته
(۹: ۲۵)

- پر تندي اور بلول:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (غم ګالل، کړاو زغمل، په غم ککړول) ده.

زه د شمعې په څېر اور په تندي بل کړم
ته د صبح په څېر خاندي له غروره
(۹: ۲۶)

- پر تور سپین اړول:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځورول، ربړولو ته پلمه لټول) ده.

ډېر مې ماړوه په تورو سپین صنمه
چې خوني به په خپل ځان یم ستا له غمه
(۹: ۲۸)

- ځان اورته اچول:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان غمول، کړول، ربړول) ده.

عاشقي په اختیار نه کېږي هوښیار شه
ځـان و اور ته اچول اختیار د چا دی

(۹: ۳۸)

- پرځان بلاکېدل:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان ته غم کېدل، ځان ته غم کتل) ده.

د دانې په طـمـع بند ازاد مـرغــه شــي
زر به ستا په ځان بلا شي دا ستا طـمع

(۹: ۳۹)

- تر ځان تېرېدل:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (بلهاري، سرښندنه، قرباني) ده.

زه و یار ته تر ځان تېر یم
دی و مــاتــه پـه عنـــاد

(۹: ۴۰)

- ځان جهان ځنې نه دریغول:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (قربانېدل، سرښندنه) ده.

هېڅوک به دریغ نه کا ځنې ځان جهان په صبر
ووینـي کــه دا حسن و جمال دلـجـوی د ستـا

(۹: ۴۱)

- ځان شمارل/ شمېرل:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان په څه کې ګڼل، راوستل، د ځان دریځ ټاکـل) ده.

د خلوت له عزیزانو مې زړه تور شه
ځان مې وشماره د ترکو په کندي بیا
(۹: ۴۵)

- ځان غښتول:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (تعظیم، ځان لوی ګڼل) ده.

چې د دین دانایي نه لرې په زړه کې
بېهوده ځــان غښتوې په خــوله یې پوه
(۹: ۴۶)

- ځان کوتل:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان وهل، ځان حلالول، ځان وژل) ده.

دا د عشق طاعونی رنځ به یې ارمان شي
کـه د زهـد ځـــان کوتلی شي ژوندي بیا
(۹: ۴۸)

- ځان مړل:

دا ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (ځان نړدې کولو ته پلمه لټول، ځان نږدې کول) ده.

هېڅ شفقت زما د یار په رقیب نه شته
محض مړي پــورې ځــان زمــا په ښــو
(۹: ۴۹)

- ځان ورکول:

پورتنی ترڼګ یوه ګړنه او مانا یې (بلهارنه، ځان قربانول، فنــاکول، لــه ځــان بــې خــبره کېدل) ده.

په هــوی پســې د نس ســر هــوا مــه ځه
ځان به ورک کړې لکه برق په دا شتاب
(۹: ۵۰)

- خاورې پر تندي لوستل (لونل):

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (درناوی کول، د یار د در د خاورو قدر کول) ده.

پـــرېـــواتـــه د رقیبانـــو په ســـر کـانې
ما چې خاورې ستا د در په تندي لوستې
(۹: ۶۴)

- خپړې ښتل:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (ګواښ کول، ډارول) ده.

عاقبت د عشق زمري راباندې ترپ کا
چې ښتـلې یـې مـــدام راتـه خـپړې
(۹: ۶۶)

- خره خسي کول:

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (بې ګټې او خوشې کار کول، چونګښې نالول) ده.

ډېر مې خره خسي وکړه یوه نه شوم
ریش کـــنده، جامـــه پاره لـه لېـونتوبه
(۹: ۶۷)

- خوب لیدل:

پورتنی ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (له خیال سره لوبېدل، سوچونه کول) ده.

د دنیـــا هـــوئ هـــوس د خـوب لـیــده دي
چې خوب وړی شي راویښ، نه شي بیا هېڅ
(۹: ۷۰)

- د خولې خوند ورانېدل:

دا ترنګ یوه ګړنه او مانا یې (خوله بې خونده کېدل، خپه کېدل، اړیکې شلېدل) ده.

د جهان چې د خولې خوند په لباس وران شه
پرې لـــذت زهـــر، زقـــوم دی د اخـــلاص
(۹: ۷۳)

- دم ختل:

دا ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې (ساه ختل، چپ کېدل، ګونګېدل، مړ کېدل) ده.

چې يې دم له غمه نه خېژي په عشق کې
خـو حـيران د عاشقــانو په ژونـدون يـم

(۹: ۸۱)

- دم وهل:

پورتنی ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې(څه ويل، نظر څرګندونه، ګيله ګول، خبره کول) ده.

په يوه نفس حباب له بحره بېل شه
نه شته هېڅ په دم وهلو کې بهبـود

(۹: ۸۱)

- دندان سپينول:

دا ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې (خندا، خندل) ده.

د حيــا پـــه کــور مې واوري ږلــۍ
په خندا چې راته سپين کاندي دندان شوخ

(۹: ۸۲)

- رنګ تبنتېدل:

پورتنی ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې (پيکه کېدل، خجالت کېدل) ده.

په ليده مې د يـار وتبنتــي رنګ هسې
لکه نور په کتان لګي د مهتاب شوخ

(۹: ۸۷)

- زړه ورل:

دا ترڼګ یوه ګڼه او مانا يې (مينېدل، زړه بايلل) ده.

نه به ترکو وړی زړه راشي په لاس
نه به مـړي شي د ګـور ببرته ستانه

(۹: ۱۴۳)

- زړه یخول:

پورتنی ترېنګ یوه ګړنه او مانا یې (ارمان وتل، کسات اخېستل) ده.

لکــه ته کــوې د بــل پــــه مــرګ اخ اخ
ستا په مرګ به هسې زړه کاندي ځوک یخ
(۹: ۱۴۸)

- ژبه خوږول:

پورتنی ترېنګ یوه ګړنه او مانا یې (پستې او خوږې خبرې کول، ښه خوی) ده.

دا رمــوز کــا د یار خـط په ماته ژبه
چې خوږه کړه نن ساعت په ماته ژبه
(۹: ۱۵۰)

اخځونه

١ ـ رښتین زیور، زرغونه (١٣٨٢ ل) پښتو نحوه. پېښور، ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

٢ ـ رښتین، صدیق الله (١٣٧٧ ل) د پښتو ادب تاریخ. پېښور، ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

٣ ـ رښتین، صدیق الله (١٣٨٣ ل) د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه. پېښور، ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

٤ ـ روهي، محمد صدیق (١٣٦٠ ل) ادبي څېړنې . کابل، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو وزارت.

٥ ـ زیور، زیورالدین (١٣٨٦ ل) ادبتاریخ (منځنۍ دوره). پېښور، ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

٦ ـ زیار، مجاوراحمد. (١٣٨٤ ل). پښتو پښویه. پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

٧ ـ زیار، مجاوراحمد (١٣٨٩ ل) پښتو بدلېچ یا پښتو شعر ځنګه جوړېږي ؟ پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

٨ ـ سنګروال نیازی، شهسوار (١٣٧٥ ل) د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ. پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

٩ ـ صمیم، محمدآصف (١٣٧٨ل) د لرغوني شاعرۍ ګړنې. جرمني، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه .

١٠ ـ مومند ، عبدالحمید (١٣٨٣ ل) کلیات. پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

١١ ـ هاشمي، سید محی الدین (١٣٨١ ل) ادبپوهنه. پېښور، د اریک د ګرځنده کتابتونو اداره.

١٢ ـ هاشمي، سید محی الدین (١٣٨٣ ل) د پښتو ژبې لنډ ګرامر. پېښور، د اریک د ګرځنده کتابتونو اداره.

١٣ ـ هېوادمل، زلمی (١٣٧٣ ل) په هند کې د پښتو ژبې اوادبیاتو د ایجاداو ودې پړاوونه . لاهور شرکت پرنټنګ پریس.

۱۴ ـ هېوادمل، زلمی (۱۳۷۹ ل) د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دوره). پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (الحاج وحید الله ولیزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک